# د همدرد خاطرې

لیکوال: ډاکټر انتظار احمد همدرد

# د لیـــکوال لنــډه پیژندنه:



دا زما لپاره ډیر د خوښې ځای دی ، چې د ګران ورور ډاکټر انتظار احمد همدرد په پیژندنې یو څه لیکم .

ډاکټر انتظار احمد همدرد د مشهور لیکوال او ژورنالیست استاد شیرشاه همدرد زوی دی ، چې په ۱۳۷۳ لمریز کال دننګر هار ولایت د بهسودو په ولسوالی کې په یوه روڼ انده کورنۍ کې دی نړی ته سترګې وغړولې.

هغه خپلې لومړنې او منځنې زده کړی د عبدالوکیل په عالي لېسه کې ترسره کړی او دخپل پلار په هدایت او تشویق همدرد وکولای شو چې د خپل منځنې زده کړی په دوران ( دلسم ، یوولسم او دوولسمو) ټولګیو کې دد ښوونځي فیصده یی ۱۰۰٪ وي بیا د کانکور ازموینې له لیارې لومړې د ننګرهار طب پوهنځي ته وروسته دیو حکومتي بورسیې له لارې د طب زده کړی لپاره ترکیه ـ انقره ته لاړ، اوسمهال دطب پوهنځي دددریم کال محصل دی، ډاکټر صاحب د شیرزي ، درخشان، او نوي اذرخش په تعلیمي مرکزونو کې د استاد په صفت دنده ترسره کړې دی

دلیکوال اثار:

۱.دهمدرد خاطرې ...... چاپ

۲.ناهیلې ژوند(ناول) ........ ناچاپ

۳. دترکیی سفر(یونلیک) .... ناچاپ

۴.زما دی توبه وي (لنډې کیسې)..... ناچاپ

۵.دادی لابله سپکه(طنز)..... ناچاپ

۶.دپوستکې ناروغۍ..... ناچاپ

۷.لیسر او دلیسر استعمال....(ناچاپ)

۸. دوینې کلسترول...... ناچاپ

۹.دپوستکې سرطان ..... ناچاپ

۱۰.Advance Daily words ...... چاب

۱۱.Advance  News Words ..... ناچاپ

۱۲.Advance E nglish Grammr .... ناچاپ

په افغاني مینه

ډاکټر احسان الله مایار

ترکیه ـ استانبول

۲۰۱۵/۹/۲

## یو څـو ټکـــــــــــې!

دانسان ژوند دیادونو او خاطرو ټولګه ده ،چې هره لحظه یی د ژوند دکتاب په پاڼو یو انځور جوړوي ،چې دهمدغه انځور پر بنسټ انسان قضاوت او پریکړه کوي،چې بیا د همدغه قضاوت او پریکړې له مخې انسان ښه اوبد ،خوشحالي او خفګان،حق او ناحق ... پیژني او په مجموع کې د طبیعت په هکله فکر کوي.

کله کله دا انځور دومره تت او سطحي وي چې بیا ځل د لیدلو هم نه وي حتا پخپله له هغه انسانه هم هیر وي،مګر کله کله بیا دا انځور دومره واضح اوښکاره وي ،چه حتا انسان یی پخپل ټول ژوند کې له ځان سره ساتې،فکر پرې کوي،پند او عبرت ترې اخلي او دډیرې خوشحالۍ یا خفګان سبب یی جوړیږي چه دا د ادبیاتو په ژبه د ژوند همدغه واضح انځور ته خاطره وایي.

که همدا مطلب په لنډو ټکو ووایم ، انسان د خپل ژوند په اوږد سفرکې له ډیرو تودو او سړو حالاتو تیریږي او ډیر یادونه یی په ذهن کې پاتې کیږي ،مګر ددغه یادونو له جملې څخه ځینې داسې وي چه په یادولو سره یی انسان یو خاص کیفیت احساسوي ،ښه یا بده چه همدې ته مونږ خاطره وایو.

دا خاطرې ځینې یی ډیرې خوږې او ځینې یی ډیرې ترخې وي چې په حقیقت کې همدا خوږوالی اوتریخوالی له یوی پیښې څخه خاطره جوړوي اودانسان په ذهن کې تر ډیره وخته پورې پاتې کیږي.

د تکړه ،بااستعداده او همت ناک ځوان ډاکټرانتظاراحمد همدرد د کتاب(دهمدرد خاطرې) همد نوموړې ژوند دیوې ځانګړی برخې دترخو او خوږو ټولګه ده ،هغه ترخه او خواږه چې نوموړی ورسره دننګرهار د طب پوهنځې له پیلیدو څخه د ترکیی هیواد ته تر تللو او

بيرته خپل ګران هيواد ته په رخصتۍ تر راتللو مخ شوی دی،د نوموړې دژوند او د هيواد د حالاتو يو ربښتينې او بی طرفه حقيقت بيانوي.

ما چې دا کتاب له پيله تر پايه ولوسته دی حقيقت ته ورسيدلم چې داکتاب په ډير زيار او ديوهدف لپاره ليکل شوی دی. ډاکټر انتظار احمد همدرد چه زه يی له ډير پخوا پيژنم اوزما د هغو ملګرو له جملې څخه دی چې زه يی په ملګرتيا وياړم دی د فولادي او نه په شاکيدونکې عزم لرونکی دی،ددې همدا لوړ عزم کله کله ددې سبب شوی دی چې دی له ځينو ستونزو سره مخامخ شي ،ځکه نوموړی په هر ځای او هر وخت کې د حق طرفدار دی ، خپل حق غواړي که څه هم څوک پرې خفه کيږي.

ديو داسې يو ځوان خاطرې چه تل يی د حق طرفدارې کړی که او په دی لاره کې له ډيرو ستونزو سره مخ شوی خوبيايی هم خپل حق غوښتې دی ،نو دنوموړې خاطرې ټولو لوستونکو او په ځانګړې ډول په ځوانانو کې يو خاص خوځښت او دحق غوښتنې روحيه تقويه کوي، ترڅو مونږ خپل حقوق د نورو داحترام قرباني نه کړو او دډير قوت سره سره د مظلوميت لاره ونه نيسو.

همدارنګه په دی کتاب کې زمونږ دټولنې له ځينو ترخو حقيقتونو هم دراز پرده پورته شوی چې تر ډيره بريده تراوسته پورې د اجرئت چانه دی کړی .

له دی سره سره په دی کتاب کې ځوانانو ته ځينې سپارښتنې هم شوی دی لکه د خپل کلتور او عنعناتو سره منيه لرل،پخپلو اسلامي عقايدو ولاړ دريځ ،پرله پسې مبارزه ،له ملګرو سره ښه چلند کول ،دخپلو استادانو احترام کول...داسې نور.

داکتاب چې زمونو دتولنې د ځوانانو او په ځانګړې ډول د محصل۲۰۱۵لینو (زده کړیالانو) د ژوند انځور دی .خدای (ج) دی وکړې چه ټول ځوانان او په ځانګړې ډول زده کوونکي او زده کړیالان ترې پخپلو تعلیمي او تحصیلي چارو کې د بریالیتوب او د خپل هدف دلاسته راوړلو لپاره ددی کتاب څخه  سالمه ګټه پورته کړي.

د کتاب هرې کیسې او خاطرې ته دیو مثبت پیغام لرونکې عنوان په توګه وګوري نه دیو بې ګټې عبارت په توګه!

په پای کې دخپل ګران ګران زړه ته رانږدې ملګری ډاکټر انتظاراحمد همدرد څخه ډیره مننه کوم چې خپل ډیر قیمتي وخت یی ددی کتاب په لیکلو مصرف کړی ،د همدرد دلابریاوو په هیله دا لاندې بیت ورته ډالۍ کوم.

ددی هیواد د هـــــــــــر انسان دزړه ارمان پوره شي

که دی هیواد کې هر یو ځوان همدرد غوندې همدردشي

دافغانستان دروښانه راتلونکی په هیله!.

محمد داوءد (قریشي)

جلال کوټ ۱۳۹۴/۶/۱۹

# خپلې خبـــــــــرې

د خدای(ج) ځخه زر ځلې شکر ادا کوم، چې ماته یې د کتاب (همدرد خاطرې ) د لیکلو توان راکړ.
انساني ژوند د پهلوانۍ میدان په څیر دی ،انسان تل په دی هڅه کې دی چې بریالی واوسی،ځکه بریالیتوب دی چې انسان خپلو هیلو ته رسوي،دانساني ژوند ټول اړخونه په اسانۍ سره لاسته نه راځي،هڅه او هاند تر ټولو اړین دی،دژوند یوه برخه د خوځښت پرته کومه مانا نه لري،هغوي چې نن دلوی عزت څښتنان دی ،هغوی ته دا عزت خلکو نه دی ورکړی ،دوی خپله دا عزت خپل کړی دی، دنورو له تجربو مې په خپل کې ډیر څه زده کړي،موسولیني وایی(زه یو کتاب او یو استاد لرم،کتاب مې ژوند او استاد مې د ژوند تجربه دی) ځکه خپلې خاطرې چې زما د ژوند یوه برخه دی له تاسې سره شریک کړ.
بوته وایی (ته داکتاب په یوه شپه کې مطالعه کوی مګر مایی په لیکلو د سر ویښتان سپین کړ).
کله چې د ننګرهار طب پوهنځې کې وم، نو ډیرې ملګرو مې راته ویل( چې همدرد صاحب ! ته په ځینو فرهنګي او ادبي بهیرونو کې برخه اخلې،وخت نا وخت ستاسې لیکنې په مجلو او ورځپاڼو کې هم چاپیږي ،ولی یوه لیکنه دپوهنځې په هکله، د تدریس په هکله نه لیکئ.) ما ویل : ملګرواوس یی وخت نه دی!مشران ویلي (هر سخن جا وهر نقطه مکان دارد).
په هر صورت دغه کتاب (د همدرد خاطرې) چې اوس ستاسې تر لاسو ورسیدو ددې کتاب لیکلو ته مې هغه وخت زړه ښه کړو، کله چې مې د خپل پلارجان آلحاج استاد شیرشاه همدرد (په زندان کې ربښتیا څه و؟!) په نوم کتاب کمپوز چارې ترسره کولی.

فکر مې کوو چې داسی یو اثر چې زما د خاطراتو مجموعه دی، ولیکم البته د ډیری ملګرو له پرله پسې غوښتنې وروسته و هڅیدم، چې کتاب ولیکم

بیا هم له ټولوملګرو څخه چې د کتاب په تصحیح او نشر کې راسره مرسته کړی په خاص ډول د ډاکټراحسان الله مایار اومحمد داود قریشي چې د کتاب په تصحیح او چاپ کې ډیرې هلې ځلې وکړی او پخپلو ښکلو سریزو یی داکتاب هم رنګین (ښکلی) کړ ، همدارنګه لوستوالو څخه هیله من یم ،چې په خپلو سالمو انتقاداتو د کتاب د بیا چاپ د تصحیح په خاطر خپل نظریات راسره شریک کړې. دانسان هیڅ کار له اشتباهاتو خالي نه دی ،نو د کتاب په لیکلو کې که له ماڅخه څه غلطې اویا اشتباه شوی وي، له تاسې څخه د هغه غلطۍ او اشتباه معذرت غواړم نور مو وخت نه نیسم .

تورتوتان له تاسې قربان!

د یوسرلوړې او آباد افغانستان دجوړیدو په هیله!

ستاسې ورور

داکتر انتظاراحمد همدرد

ترکیه ـ انقره2015 /8/2

# ډالۍ

خپل ګران پلار جان آلحاج استاد شیرشاه همدرد ته چې زما حقیقي استاد او زما  د زده کړې لپاره يې ډېر زیارونه او زحمات ګاللي دي!

# د کــــتـاب پیژندنه:



| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | د همدر د خاطرې |
| لیکـــــوال | ډاکټر انتظاراحمد همد |
| کمپوز کوونکې | ډاکټر انتظاراحمد همدرد |
| د پښتی ډیزاین | ډاکټر انتظار احمد همدرد |
| انلاین خپرونکې | کتابتون |
| ایمیل آدرس | Intezar .Hamdard1@gmail.com |
| د چاپ کال او شمیره | ۲۰۱۵ ع کال ۱۰۰۰ ټوکه |

# خــــــــــــــــــــــــــــــــــره که خره!

د ننګرهار طب پوهنځې ته له کامیبیدو نه وروسته  د همد ې ورځی په انتظار کې وم، چې کله به مو پوهنځی پیل کیږي، کله به پوهنځې ته ځم.! عجیبه خیالونه د سړي په فکر کې ګرځي.  په هر صورت داسې ورځ هم راغله چې له ننګرهار ملي تلویزیون څخه مې په خبرونو کې واورید( چې هغه کسان ۲۰۱۳ کال محصلین(زده کړیالان) دي، د خپلو مربوطه پوهنځیو د نوم لیکنې لپاره دی، دننګرهار پوهنتون مربوطه پوهنځیو ته، د نوم لیکنې لپاره مراجعه وکړي) دا شپه هم  تیره شوه، خو له ډیرې خوشحالی نه خوب راته نه راته، ما ویل همدرده! بس نور نو ځان ډاکټر وګڼه سبا ته نوم لیکنه کوی، هغه وایي:( له خوشحالیو په جامو کې نه ځایدل) .نورڅه ووایم په یوکتاب کې مې لوستی وو، کله چې انسان ډیر خپه یا ډیر خوشحال وي، بیا ورته خوب دومره نه راځي بس دا صحنه مې عملي ولیده خیر په ګهیځ یی د پوهنتون د نوم لیکنې لپاره لاړم، خو له ډیر ګرځیدو می ایله د طب پوهنځی لپاره د نوم لیکنې ځانګه پیدا کړ، کله چې شعبې ته  ننوتلم له ننوتلو سره مې لومړی په هغه کس سترګې ولګیدې چې د طب او شریعاتو پوهنځیو لپاره  دنوم لیکنې دنده یی په غاړه وه. دی په تن ښه غټ او په سر یی ایله دوه درې ډکي ویښته پاتې ول او په پارسی غړیدو خیر له سلام اچولواوروغبړ وروسته یی راته وویل: (چی ودریږه هلته) ښه می په یاد دي، ملګرو چې دوه تنه له ما مخکې په کتار کې ولاړ وو.  حیران په دی وم چې له دوو کسو نه لومړی کس ورته د میز مخې ته ولاړ وو،  مګر د نوم لیکنې درک یی نه لګیدو ما ویل خیر کیدای شي چې دا د پوهنځیولپاره نوم لیکنه به ډیر وخت غواړي خو له ډیر وخت دریدلو وروسته هغه دوه کسان هم بې له نوم لیکنې د شعبې څخه ووتل، نو ر

نو زما وار راغې خو کله چې راته وویل : پیش بیا او بچه! له دی کلیمې ویلوسره نو ر نو په دریدلو یی را ته زاره شین کړه . کله به یی یو ته نوم لیکنه کوله کله بل ته! چې ما به خبره ورغبرگه کړه چې مامور صاحب! نوبت من است! بیا نو مامور صاحب راباندی غږ وکړ( چی قسم ادم هستی، مردم جنسنگ میخوراند همرای ثبت نام به پوهنتون، جنسنگ (انرژي ) درک نه دارد !.نو زه هیڅکله له داسی مسئایلو سره نه وم مخ شوی هغه کیسه رایاده شوه: کوم تن دبډې (رشوت) ورکولو په چل نه پوهیده موټر یی ټکر کړی وو، کله چې ترافیک دوی ماموریت ته ورړل نو د ترافیکو مامور ورته وویل: چې څنگه کار دی خام دی که پوخ؟ نو د ی چی د ترافیکو دبډې (رشوت) اخیستلو په رمز پوه نشو، نو ویل خام او پوخ باندی دی نه پوهیږم خو زه غواړم ستاسو رئیس سره وگورم هلته د امسئله پالو.... کله چې رئیس له نوموړي کس څخه د ټکر دپیښې په هکله وپوښت ،چې وروره! ټکر څنگه رامنځته شو ،کله رامنځته شوه،ولې رامنځته شوه...نور، دی وویل رئیس صاحب! چرت خراب نه کړئ بډې (رشوت) درکوم خو چی کار راته وکړې ! رئیس ورته وویل: چی څه په گډوډو سر یی، زه رشوت خور نه یم، د قانون مطابق چلند به درسره وشئ...نور . نوموړی سړی وویل: ټوکې کوي رئیس صاحب! خیر دی که رشوت حرام دي نو د رکوم یی! بس وایی نوموړی کس مخکی او رئیس ورپسی ! له ځان سره می وویل چې همدرده! داسی نه چې جنسنگ به دی ورته اخیستی وي ، بس له وهلو به دی ځغلول ډیر وي. حیران وم چی څه وکړم له ځانه سره مې ضد کړی وو. چې د پوهنځې لپاره نوم لیکنه زما مسلم حق دی، پر دی خو والله که درته گرمی اوبه هم واخلم! (درشوت په بڼه) ! له بڼه ساعت وروسته یی راته وویل: بیا که ثبت نامت کنم. ډیر خوښ شوم دلته یی نو بیا دبل تن د نوم لیکلو( دثبت نام ) کارپیل کړ، او زه همغسې ولاړ، ماویل څه

خیر! له همدی سره یو سړی چې ښه برابره ږیره یی درلوده او په تن غټ دنګ سړی ووراداننه شو ورسره له روغبړ وروسته مستقیم یی د هغې دلور نوم لیکنه( ثبت نام ) پیل کړ، ما ویل مامور صاحب! دا خو اوس راغي! مامور صاحب وویل : چپ ګپ نزن این استاد هست ! ماورته وویل چې استاد داسی کوي، بیا له نورو څه ګیله !استاد هم د ی خبری سره په غوسه شو، راغلې کس راته وویل کوم پوهنځې ته نوم لیکنه کوی؟ ما ویل طب پوهنځې ته ،هغه وویل ښه ډیر ښه ...! د ده دلور د نوم لیکنې وروسته ایله چې زما د نوم لیکنې وار راغې مامورصاحب زما په لور سترګې واړولې ویی ویل ( بیا که حال ثبت نام تورا کنم) خو د نوم لیکنې (ثبت نام) په وخت کې یی را څخه تذ کره وغوښته ،ما هم تذکره له ځانه سره لرله ،تذکره مې ورته وړاندې کړه مامور صاحب تذکرې ته ښه ځیر شول، بیایی عینکې له سترګوڅخه د پوزې څوکې ته ښکته کړلې تابه ویل لکه داعلیحضرت ظاهرشاه بابا د وخت کوم مامور وي په خندوونکې لهجه یی راته وویل:( وزارت تحصیلات عالی نام تو و پدرکلان ات را شتباه نوشته، برو وزارت تحصیلات عالی نام ات را اصلاح کرده بیا که ثبت نام ات راکنم) ښه ما له ځانه سره وویل کور دی له غنمو ډک شه ! اول به دی ویلې وای په دریدلودریدلو سره دی سم را څخه د مصطفی کمال اتاترک پاسبان جوړ کړ.

د نو م د تصحیح لپاره کابل ته لاړم، خو په لوړو زده کړو وزارت کې له ډیروګرځیدو وروسته راته یو مامور وویل: چې د کانکور دآزموینې کمیټی ځانګې ته لاړ شه ! د کانکور دآزموینې کمیټې ځانګې په لور روان شوم ، د کانکور دآزموینې کمیټې ځانګې( شعبی) ته له رسیدو سره یو تن چې شاید د ۲۴ یا۲۵کلو په عمر ښکلی ځوان وو، د خپل مشکل په ویلو سره مې ځان ته کار وکاته ویل یی ( خارج شو تورا میگم خارج شو)ما ورته وویل وروره! څه مشکل دی چې زه

خارج شم. ویل یی:( تو به خارج شو نه فهمیدی هه! ویل: محافظ ای محافظ .. بیرون از تحصیلات عالي پرتاب اش کن)! خو ما ویل زه څه مشکل به وي، خیر دباندی ووتم او له غرمې وروسته بیا راغلم، بیا چې د لوړو زده کړو وزارت کی په نورو څانګو (شعبو) کې وګرځیدم ،ویل ستا مشکل د کانکور دآزموینې کمیټې څانګې پورې مربوط کیږي. بس څه ووایم بیا لاړم دغه د کانکور دازموینی کمیټې څانګې ته، خو بیا هم له بده مرغه ددی ځوان څیره زما په لیدو بدله شوه، او په داسی بدو کلیمو یی راته ښه راغلاست ووایه، چې حتا لیکلی یی نه شم. خیر داخل می ځان سره عهد وکړ، چې ترڅو خبره معلومه نه کړمه خو ولاکه یی له شعبې ووځم ، ورته می وویل وروره! زه ترهغې له دی ځای نه خوزیږم چې زه پوه نه شوم چې زما مشکل تا پورې مربوط کیږی اوکه نه! خو بالاخره پوه شوم چې کار می د سره مشکل نه لري. ویل:(برو به معینیت تخینکی ومسلکی ان جا کار ته جور کن). کله چې د تخنیکې زده کړومعینیت ته لاړم نو د تخنیکي زده کړو معینیت کې د محصلانو چارو آمریت ته لا ړم ویل: تو صبر کن والله مربوط ما نه میشه ، همرای ما چی میکنه نام ات، عزیز دل! تو از لیسه فارغ شدی واینجا تا صنف نهم(۹) مربوط ما میشود !! خیر څو ورځی مې په همدی تیرې کړې خو هیڅ ګټه یی ونه کړه. خیر بیا راغلم د تخنیکې او مسلکي زده کړومعینیت ته دا ځل یی د آصف ننګ چې د دی معینیت مشرې په غاړه لري دفتر ته ولیږلم .هلته یوه ښځه ناسته وه ،ویل یی زه د ننګ صاحب سکرتره یم . له ننوتو سره یی راته سترګی مه شی راکړله،ویل څه مشکل لری؟ ما ویل خورې :زما مشکل تاپوری نه ننګ صاحب پورې مربوطیږي، ویل یی( آصف ننګ خو فعلا نیست مګر ما مشکل ات را حل میکنم) خپل مشکل مې ورته ووایه، یو بل سړی هم ورسره څنګ کې ناست زما مکتوب یی چې ولیده نو راته وویل:وراره جانه! مونږ خو تر دی شمیرې مکتوب نه لرو د مکتوبونو کنده یی راته

وښوده زه هم حیران شوم چې اوس به څه کوی خیر له دی مخکې راڅخه د محصلانو آمریت کې هم دغه موضوع راسره بحث شوی وو خو له نیکه مرغه هغه سند راسره وو چې آصف ننګ پخپله لیکلي او امضاء کړی یی وو.ناست کس راته وویل: وراره هیڅ فکر مه کوه اوس دی مشکل په څو دقیقو کې حلوم..! زه هم خوښ شوم .. ویی ویل وراره راځه د محصلانو مدیری ته ورځو، هغه به دی کار خلاص کړي د مدیری له نوم اوریدو سره هک پک شوم .! ما وویل هغې مدیرې ته څو څو ځلې لاړم... ویل ته خو راشه زوروره! ما ویل : که ته وایی بیا به لاړ شو! خیر لاړو مدیری خواته ترڅو چې راغلی کس راسره ځان خبروته جوړاوه مدیره زما په لیدو پوه شوه چی زما کار دی . راسره راغلی مامور ته یی وویل د دغه هلک کار مونږ پورې مربوط کیږي نه تاسې ولی نه پوهیږئ ! دی ورته وویل مدیری صاحبې مکتوب آصف ننګ ورکړی دغه خبری سره نو مدیرې صاحبې وویل:

ته په پښتو نه پوهیږی اوس دی په دری ژبه پوهوم !

مدیرې وویل : (گم شو که سریت را کل میکنم و آصف ننگ چرا به سطح وزارت کار میکند) هغه کس چی له ننګ صاحب له دفتره راسره راغلی وو. وویل وراره پښی وباسه که نا دا ښځه به مو سپک کړئ،! له ځانه سره مې وویل: (اوبه له پاسه خړې دي) بس څه ووایم دباندی ووتو راته یی وویل: نن د غرمی وروسته درې (۳) بجې راشه مستقیم له ننګ صاحب سره وګوره، ما وویلې ښه ده . دباندی لاړم په یو مسجد کې د ماسپښین لمونځ له ادا کولو وروسته بیرته دتخنیکي زده کړو معینیت ته راغلم، بیا ددوی دفتر ته لاړم ویل یی انتظار وکړه را به شئ، بس ورځ ټوله په ناسته راباندی تیره شو خو دننګ صاحب څه درک ونه لګیده! بس په همدی سوچونو کې وم چې دهغه ځوان کیسه رایاده شوه چې دده نوم خړه وو خو د لوړو زده کړو وزارت د با تجربه او پوه کارکونکو له امله دده نوم یی خره لیکلی وو. دهغې نوم

(خړه)هم دداسی بې کفایته او بې علمه خلکو له لاسه له خره نه بیرته خړه نه شوه! بلاخره چې هغه کس پوهنتون هم د ددوی له بی کفایتی څخه پریښود اوورسره یو ډیر لوی او داعزاز لقب (صفت) یی هم ورته اضافه کړ خره !

## غټ صفر بــــــه درکړم!

د معمول په څیرهر سهار مې پلار له خوبه را جګولم، له جماعت لمانځه د اداء کولووروسته به می خپلو کوچنیو ورونو ته د قرآن کریم له درس ورکولو وروسته به مو چای څښه، خو نن د چای خوند ځکه ډیر زیات وو، چې زمونږ یو خپل انجینر صاحب معشوق فضلي چې پرما ډیر ګران و، راغلی وو، ځکه دی ډیر پوه او د تیرو وختونو کیسې په ډیر ښکلي انداز سره کولې او ما ته دا کیسې دومره خوندوری وي چې د مچ بوښیدل هم نارامه کولم. خو نن بیا د کیسې پرځای زما د پوهنتون( طب پوهنځې) په هکله غږیده، نو ویل یی چې پریشانه کیږه مه انتظارجانه ! د خبرو په منځ کې یی یو څوک (...) داسی راولوید لکه یو سړي چې نابېره زندۍ کړی. ویل یی ماما یی هم په طب پوهنځې کې دی، خود به تشویش نه کوي، که څنګه انجینر صاحب ! انجینر صا حب ورته وویل چې زه انتظارجان له پخوا د یو مستعد ځوان په صفت پیژنم نه یو چاته د طمع کوونکي په صفت! هورښتیا د تشویش خبره داسی وه چې ما به د ښوونځې په دوران کې له خپلو ښوونکوڅخه د ډیرو پوښتنو یا د ازموینې د پرچې ځای پر ځای (د ټولو په مخکې) لیدلو له امله چی زما حق ونه خوړل شي.

د ځینو ښوونکو له بد سلوک سره مخامخ شوی وم، له ځینو خو دومره بدی خاطرې لرم چې حتا د خپلو خاطراتو له کتابتونه می داسی لیري کړي، لکه څنګه چې سړی په کمپیوټر کې دیو فایل(لیکل شوی دوسیه)

له منځه وړلو لپاره د شيف ډيليټ بټنه(په بشپړ ډول له منځه وړل) ووهي! کتابونه مې راوخيست د ننګرهار دطب پوهنځې په لور روان شوم، نن مو د بيولوژی عملي درس درلو د. د ځان سره مې ويل چې همدرده ! ښه شوه چې طب پوهنځی دی غوره کړی، ځکه هرڅه چې لولی هغه نو په عملی توګه هم ګورئ! له ځان سره ډير خوښ په دی وم، چې که په ښونځی کی مو کله لابراتوار مجهز وو نو د لابراتور په استعمال به مو ښونکي سم نه پوهيده، کله چې لابراتوار کې څه پاتی نه شول، نو بيا ځينو ښوونکو په لابراتوارکې د موادو د کمبود نه سر ټکولو .... په همدې فکرونو کې وم چې يو سپين ږيری کاکا چې د عمر نه ډير پوښ وو،دنګ سړی او ايله کوم ډکې ويښته يی په سر کې تور پاتې وو، غږ يی راباند وکړ چې ځوانه ! څه ټولګې ته! که د بيولوژی استاد راغې نور نو خپله پوهيږی... د سپين ږيری کاکا په ليدلو مې هغه د ملت مل صاحب هغه ليکنه چې دی د (ځوانان او شخصيت جوړيدنه ) کې کړی وو ذهن کې راوګرځيده.

ملت مل صاحب په خپل کتاب کې ليکلې وو، چې د طب پوهنځی د ځلورم ټولګی د ازموينی يوه پوښتنه هم دا وه چې ستاسې د ليليی د اشپز(خواړه پخونکي) نوم څه دی؟ نو ډيری محصلينو(زده کړيالانو) له ازموينې وروسته د استاد نه شکايت وکړ. چې دا خو د طب پوهنځې لوست(درسونو) پوری نه مربوطيږی ؟ نو استاد يی په ځواب کې وويل: دغه کس(خواړه پخونکي) د ځلورو کلو راهيسې ستاسو خدمت کوي، ستاسو خيټې مړوي ،ستاسې لوښې مينځي ...داسې نور. تاسی يوازی د هغې دنوم پوښتنه هم نه ده کړی. تاسې د يو ناروغ سره چې تاسی به يی خدمت کوئ، څه رنګه برخورد (سلوک) کوي؟

نو تاسی چې ترځو د انسان په ارزښت نه يی پوه شوی نو د ډاکټر(طبيب) کيدو حق هم نه لري..! ددی خبرو له يادېدو سره سم مې په بيړه د سپين ږيرې کاکا پسې حرکت وکړ ،او د سپين ږيرې کاکا

دنوم پوښتنه مې وکړه ،مګر د حيرانتيا خبره داوه، چې سپين ږيرې کاکا له نوم ښودلو ډډه وکړه،له ځان سره مې وويل، شايد اوس به يې خوښه نه وي، وروسته به ترې وپوښتم ، له دې سره بيرته ټولګې ته داخل شوم. پوهنتون خو ډير مخکې پيل شوى وو،مګر الله(ج) دې د مهال ويش جوړونکي ته خير نصيب کړي! تر غرمې به دوه درې ځلې مهال ويش بدلون کوو،په هر صورت د همدى دقيق مهال ويش له کبله د پوهنتون له پيليدويوه مياشت تيره شوى وو،مګرنن مو لومړى ورځ وه، چې د بيولوژي عملي درس ته لاړو.

ټولګي ته له دننه کيدو سره دبيولوژي استاد مو نوي محصــــلينو(زده کړيالانو) ته خبرې کولې، زما په ليدو يې ډير خه راته وويل، له ځان سره مې وويـــــل همدرده! خير پروا نه کوي، داستاد او دپلار ګوزار او خبرې پيغورنه لـــــــري.

په ټولګي کې د ځاى د کمبود له امله دسپينې تښتې څنګ ته کښيناستم،استاد وويل: تاسو کې څوک پوهيږى؟ ناست محصلينو(زده کړيالانو) کې يو هم ځواب ورنه کړ، ما ورته وويل: چې استاده! ټول پوهيږي، مګر تر خپل وسه، او بيا خو طب پوهنځې ته معمولاهغه زده کوونکې چې د ليسې په دوران کې ممتاز زده کوونکي وي بريالي کيږي (رازي)،استاد ماته مخ واړاوه وويل پاخيږه پروفيسوره! زه پاخيدم ،ويل يې درس وليکه! ما هم د در س هغه مهم ټکې وليکل. کله چې دى ټولګې ته داخل شو نوزه په ليکلو بوخت وم، نو د هلکانو د نوم پوښتلو وار خلاص شوى و. چې ديوى نجلۍ څخه يې د نوم پوښتنه وکړه ، استاد وويل: نوم دې څه دى ؟ هغه خور ورته وويل نوم مې خرما دى استاده،! استاد د نوم اوريدلو سره داسى په کړس کړس وخندل تا ويل چې د آصف جلالې کوم طنزى پروګرام ګوري. په هر صورت په ټول ټولګې کې سکون خپورشو، استاد خرما خورکۍ ته وويل دا نو نوم دى، دده پرځاى به دى.... نوم غوره کړى واى . استاد لا هماغسې دخندا په

حال کې وو، يو بل ټولګيوال ته چې ګيره يې درلود،استاد وويل پاڅه شيخه ! نن کوم درس دی؟ شيخ وويل نن اوله ورځ ددرس ده،استاد لا هماغسې خندل ويل هو داسې خو ده، استاد بيا شيخ مخاطب کړ ويې ويل ، ولې د ا تعريف داسې دی ؟ شيخ لا خبره نه وه کړې چې وويل: کينه نه پوهيږې تاسې به دښوونځې له معلما نو څه زده کړې وي. يو هم په څه نه پوهيږئ! بل يې را پاځوه ورته وويل ملاريا څو نوعي لري؟ ټولګيوال مې هک پک شو که پوهيده هم له ډاره يې نه ځوابووو نوما غبر وکړ چې څلور نوعي دی

١. پلازموديم فلسيپارم
٢. پلازموديم وی واکس
٣.پلازموديم اوولې
۴.پلازموديم ملاريا

استاد وويل: چپ شه! غلط دی، ددې سوال په ځواب يوازې زه پوهيږم .

دا ډاکتران او ستاسې د مکتب ښوونکی له دې شيانو څه خبر دي، ټوله ورځ لو، کوي اوځينو خو لورپه اوږه اچولې وي، او ښونځی ته راځي تاسې به له هغه بزګرانو څه زده کړې وي! مخ يې زما په لور راواړاوه،په ستونې کې مې لاړې وچې شوې، ما ويل خدای(ج) دې خير کړې همدرده! چې استاد به څه وايي: استاد وويل ښکارې خو لايقه خو په داسې ځوابونو او زما نه د پوهنتني کولو سره به ځان ته کار وګورې، هی تاته وايم سپين کاليه ! دادې څه ليکلې ؟ ماورته وويل استاده! د درس لنډيز(خلص) .

استاد په غوصه وويل: کينه کم عقله په ليکلو هم نه پوهيږې، څوک ليکنه همداسې کوي؟ رښتيا هم داستاد خبرې ډير خواشينې کړم له ځان سره مې وويل چې داد درس ځای دی که د زده کوونکو د شخصيت دخرابولو ځای ... ماورته وويل استاده نو څنګه يې ليکې ؟ مارکر يې

راوخیست د صفحی نوم، ورځ ،تاریخ او بس له الف څخه تر یا پوری یی درس په تخته ولیکه  ویی ویل درس خلک داسی لیکی ،پوه شوی تنبله ! ته ډیرې پوښتنی هم کوی، زماپه هره خبره کې لویږې. ګوره ځان سم کړه کنه داسی غټ صفردرکړم چې په ټول ژوند کې یی یاد ولری.

 ما له ځانه سره وویل چې همدرده! دا څنګه خبره ده،استاد پرمونږ بیولوژی زده کوی که املا ، نورمې نــو زړه ډیر خوابدی شو له طب پوهنځی نه  بس په  ذهن کې می هغه د میښین صاحب د پبلک سکول (عوامي ښوونځي) صحنې تیریدی چې کوم کس چې  به ورته ویل چی زه په اتم ټولګی کې څلورځلې فئیل(ناکام) شوی یم، نو دی(میښین صاحب) ورته ویل افرین شه په تا! بس ته برتي(مقرر) شوی، او که بل ورته ویل چې زه له پوهنځې نه اولنمره فارغ شوی یم ! نو میښین صاحب به ورته ویل، تا نه برتی(مقرروم) کوم ځکه ته خو په څه نه پوهیږې ،ځکه ته اولنمره یی، څنګه ته دومر ه کم عقل یی،(اولنمره یی)؟! له ځانه سره مې وویل که دی ځواب ورکړه ، یا دی سمه خبره وکړه نو بیا به غټ صفر وړئ !

## له کـتاب څخه هم ډیر پوهیږې!

له معمول سره سم مې خپل کتابونه د مهال ویش سره برابر کړ،پوهنتون ته د تګ په وخت کې مې  پلار جان  راته وویل بچیه! ډیر پام کوه چې له استادانــو سره بد سلوک ونه کړئ، د استاد همیشه احترام کوه! خیر ته په دی مسئـــــایلو پوهیږی،  بیا هم د پوهنځې ماحول دښوونځې د ماحول سره ډیر توپیر کـــوي.  ځینو مسئایلو ته متوجه ووسه! د پوهنځې په لور روان وم ،چې د ننـــګرهار د طب

پوهنځۍ یواستاد ، خبری مې ذهن کې ښکته او پورته شوی، ډېــــر یی حیران کړی وم، هغه راته ویلی وو، چې همدرده! په پوهنځي کې به له ټولګی د باندی استاد ته سلام نه اچوئ، په پوهنتون کې به هیڅکله هم نه خاندی! ما ورته وویل، چې استاده! دا خبره درسره منم، چې د استاد په مخ کې خندا کول خو ډېر لیرې خبره ده، حتا زما کورني آداب ماته دا اجازه نه راکوي، چې زه بی ځایه، یا چا پورې وخاندم ، ځکه په چا پوری خندا په ځان پوری خندا ده! مګرد سلام نه ورکولو سره دی مخالف یم، ځکه سلام اچول سنت دی، ځوابول یی واجب دی، ددوو کسانو ترمنځ دمیني د ډېریدو او د بغض او کینې دورکیدو(له منځه وړلو) لپاره دی نه د بل کوم منظور لپاره...داسی نور.

ما لاخپلې خبری خلاصې کړي نه وي. چې استاد زما په خبرو کې راولویده ،استاد وویل( ما خو درته وویل نور ته پوهیږې... ویل یی ګوره همدرده! چې دا د پوهنتون استادان دي،نه د کوم ښوونځی استادان! دوی ګوره په سر خوځولو سره خبرې کوي پوه شوی ! بس په ډېر حیرانتیا مې ورته وویل پوه شوم استاده مننه !)

په همدی سوچونو کې وم چې پوهنځی ته ورسیدم ، له ملګرو سره روغبړ وروسته په ټولګې کې پر چوکې کیناستم، په څنګ کې مې یو څو کسان(دری ژبي) ناست وو، چې په پښتو ژبه هیڅ نه پوهیده، له روغبړ وروسته ،دناستې په وخت کې(دری ژبي) راته وویل ( همدرد جان! تو همیشه درس را تشریح میکنی، اګر ازرده نه میشوی ،همرای ما در درسها کمک کن.) ما ورته د هو په ډول سر وخوزاوه!.

نن نو ډېر په تمه وم، ځکه چې د کمپیوټر په نوم مویو مضمون درلود ،مګر د استاد درک به یی نه لګیده ټولګیوالو مو ویل چې نن به د کمپیوټر استاد حتما راځي!

نن نو ددرسونو د پیلیدو څخه دوه میاشتې تیری شوي ،چې یوکس د کیمیا د لیکچر په وخت ټولګي ته راننوته ، ویل یی زه ستاسې د کمپیوټر

استاد یم، نن ورځ څوک باید غیرحاضر نه شي، ځکه زه د تیرو دوه میاشتو ټول درس نن په یوه ساعت کې درکوم، زما په ګډون ټول ټولګیوال حیران وو، چې دا استاد څه وایی ؟ په هر صورت بس لس نیمی(۲/۱:۱۰) بجې وی ،چې د کمپیوټر استاد ټولګی ته راننوته، له روغبړوروسته استاد دخبرو پیل په دې ټکو وکړه (تاسی باید د کمپیوټر په ارزښت پوه شئ... ویل یی زه کو م ساده استاد نه یم که ښنګه قاری صاحب! قاري صاحب پاخیږه ، ته پاخیږه او ته پاخیږه. په همد ی کلماتو یی زمونږ څو ټولګیوال ودرول (پاځول)، ویل یی ځوانانو! دوی د کمپیوټر له برکته ناکام شوي دي!)

په هر صورت په همدې خبرو یی څه کم ساعت تیر کړ، د خپل درسي ساعت څخه یی ایله (۱۵) دقیقې پاتی وی، چې دی د محصلینو(زده کړیالانو) له رټلو وزګار شو. درس یی په دی ډول پیل کړ، دا د کمپیوتر تعریف، دا یی مهمې برخي دي، نور نو د (ایټی کانسپټ) په نوم کتاب له بازاره واخلئ ، دغه نوټ ولولی ګوره ښه یی ولولئ! نور نو خپله پوهیږئ.

ښه ځوانانو مونږ ددوه میاشتو درس ولوست ، همدارنګه راتلونکی اونۍ هم زه مصروف یم ،هغه درس مې هم تاسی ته درکړو ، زه نو حیران په دی وم چې خدایه! دا ښنګه تدریس دی زما یو څه مات ګوټ د کمپیوټر په هکله زده وو ،دکمپیوټر دزده کړې په برخه کې مې څو سندونه هم لرل(یوکلن پروګرام د کمپیوټر) مګر داسی قوي، او فو ق العاده لیکچر مې داول ځل لپاره لیده! حتا کله کله د انټرنیټ له لیاری مې، د هاروارډ پوهنتون استادانو لیکچری، دکمپیوټردزده کړې په برخه کې کتلی، هغو هم د ده په څیر تدریس نه شو کولای ما ویل، شاید دا زمونږ د کمپیوټر استاد، به د هاروارډ د پوهنتون له استادانو ډیر پوه او لایقه وي، ځکه دی به په هره خبره کې دا هم ویل چې زه پوهیږم تاسی خو نه پوهیږئ!.

ځه ووایم چې ډیر مې زړه خوابدی، په دی شو چې ډیری ټولګیوال ، مو لا موس په لاس کې نه وو اخیستی، او د کمپیوټر دومره لوست، چی ددوو میاشتو لوست په ۱۵ دقیقو کې، تدریسوي څنګه زده کړی وای ، او هغه کتاب یی هم په انګلیسې ژبه دی، خیر یوازی که زما خبره وای، نو زه لږ مات ګوډ په انګلیسي ژبه پوهیدم، په ځینو کورسونو(تعلیمي مرکزونو) کې مې دغه ژبه تدریسوله! ځینو محصلینو(ټولګیوالو) ورته یاده کړه چې استاده ! درس باندی خو مونږ پوه نه شو؟ استاد وویل، په پوهیدو سره دی زه کار نه لرم ،زه د محصلینو(زده کړیالانو) په نماینده ګۍ پاځیدم ، ورته مې وویل استاده ! په دومره لږ وخت کې، دومره ډیر لوست، مشکله به نه شي؟

استاد په غوصه ناک حالت وویل: که مشکل د چا وي، نو کولای شي چې زما درس کې برخه وانخلئ،زه ځوک په زوره خپل درس ته نه کینوم، مګر بیا به په ازموینه کې ګورو سره ...داسې نور.

زړه مې ډیر خپه وو، تر ناوخته په پوهنتون کې وم کورته لاړم ،مور مې په وار وار دا پوښتنه وکړه ،چې زویه څه خبره ده، له کله چی د ی پوهنتون پیل شوی هغه پخوانی انتظار نه یی!

ددې لپاره چې مور مې خپه نه شي، دهغې دزړه د تسلی په خاطر، می ورته وویل: ( نه مورجانی هیڅ خبره نه ده ) مور ده نو ملګروو بیا یی راته وویل: زویه که ناروغ یی یا څه مشکل لری ، مورته دی ووایه ،ومی ویل مور جانی تشویش مه کوه، داسی کومه خبره نشته ،ومی ویل ښه یم ...داسې نور.

شپه می په خپله خونه کې درس لوست، چې مور او پلار می دواړه راغلل ،پلار می وویل( زویه خپه ښکاری،خیریت خو به وي) هغوی(موراو پلار) ته می وویل: نه شکر ښه یم هیڅ داسی کومه خبره نشته تاسی تشویش مه کوی (زړه می غوښت چې ووایم ) مګر دهیڅ څه(پوهنتون) یاده می ونه کړه ،چې دوی خپه نه شي .

هغه شپه هم تیره شوه، سهار بیا د پوهنتون په لور وخوځیدم، نن مو د انګلیسي ژبې استاد ټولګې ته راغی، دی به هره ورځ ټولګی، ته له راتګ سره په همدې خبرو وخت تیراوو ، چې زه خو په دی سیستم نه پوهیږم، زه دانګلیسي ژبې د ادبیاتو استاد یم ، زه په انګلیسي ادبیاتو لکه قطعه ،رباعی،شعر... ډیر پوهیږم. دا د روانو خبرو انګلیسي (دانګلیسي ژبې سیستم) دی ،دازما برخه نه ده!

که نور محصلین(زده کړیالان)، دده په دی قصیدو، که نه پوهیده،زه ځکه پوهیدم، چې یو څه مات ګوډ مې په دغه ژبه زده وو، او د تدریس په برخه کې مې هم دری کلنه تجربه درلوده، د ښوونځي په دوران کې می د شیرزي،درخشان او نوي آذرخش ... په تعلیمي مرکزونو کې، دانګلیسي ژبې تدریس هم کړی وو .

په هر صورت نن ورځ، د نورو ورځو سره په ډیر توپیر، دانګلیسي ژبې استاد ، ټولګی ته داخل شو، د ګرامر موضوع یی ( جمله) وه ، مګر ځینو هلکانو(زده کړیالانو) چې په انګلیسي ژبه پوهیده ، نو ددی موضوع په هکله لږ وغږیده،ټولګیوالو مې چې ډیری، په دی پوهیده، چی زه هم مات ګوډ په انګلیسی ژبه پوهیږم، نو ټولګیوالو مې وویل، چې باید په درس کې برخه واخلئ ...داسې نور.

نن چې استاد پوښتنه وکړه، نوما ګوته د پوښتنې، د ځوابولو په منظور جګه کړه، او موضوع می ښه وسپړله استاد حیران شو، راته یی وویل: حتما دی چیرته تدریس کړی دی؟

څو اونۍ یی مسلسل درس پرما تشریح کوه،هو رښتیا زه یی سپینې تختې ته چې دی هلته ولاړو، وغوښتم او یو څّه ورقی یی توزیع کړلې، بیا یی راته وویل څه ولاړ شه په ځای کې دی کینه ... لا په چوکی نه وم ناست چی دی ما پسی پیل وکړله. ډیری خبری یی وکړلی، اخره خبره یی چې اوس مې هم نه هیریږي، ویل ځینې خلک له کتاب نه هم ډیر پوهیږی !.

زړه مې په پوهنځي کې ډېر تنګ شوی و ،له ځانه سره مې ویل چې همدرده! دا نو کوم قانون دی، په کومه اندازه چې زیار باسې نتیجه به یې ښه نه وي ، حال دا چې شاعر څومره پر ځای ویلې:

چې اوربشې کرې کله غنـــــــم کیـږي

دی ربښتیا چې څه کرې هغه به رییـــــــې

که د( پی سی بی) تدریس داسې وي، نوراتلونکې ټولګي به څنګه وي؟ یعنی هغه څه چې مونږ د ښوونځي په دوران کې ورسره اشنایی درلوده، او په دی مضامینو کې یوه اندازه وارد هم وو، خو دډیرو ملګرو دی کور ودان وي، چې مونږ ته یې د طب پوهنځی نه لکه د زمرې د خولې د غا ښونو شومیرل جوړ کړی وو .

څه ووایم ملګروپه تفریح کې له ټولګی څخه د و تو په حال کې وم، چې له یو تن استاد چې مې ورسره له پخوا پیژنده ، دی هم دننګرهار د طب پوهنځی استاد دی، دی نو ما د ښوونځی له دوری څخه چې د ښوونځی په دوران کی عمومي اولنمره وم اوداسی نور مات ګوټ فعالیتونو څخه مې خبر وو .... خیر سلام مې ورته واچاوه ،دده پرځای چی زما سلام ځواب کړي، ویل همدرده! دا خو پی سی بی د ټوکو ټولګي دی، تاته به ډیره اسانه وي ... په هر صورت وروسته به دی پوستکی درباندی وباسي، زه هم په ډیرو تعویزاتو سره استاد شوي یم. او په اوف چوف سره مې دغه نمری اخیستې ګوره طب څه ټوکې نه دي،بیایی وویل : والله مونږ هم دومره زحمت بی ځایه وویسته، هیڅ ګټه یې ونه کړه، د یو میز شاته ټوله ورځ ناست یو، یا په معاینه خانه کې خوبونه کوو، د ناروغ دی بیخ ووځې په زره بین (مایکروسکوپ) هم نه ښکاري . یاره همدرد صاحب!

خپله ځواني مو پر ی تبا کړه، والله که ربښتیا راباندی وایی د طب پوهنځې پرځای به دی ا قتصاد یا حقوق پوهنځې غوره کړی وو نو په وار به د ژوند په مزو پوه شوی وای !!

خیر دی خپل موټر ته کیناست زه تری ټولګی پلو روان شوم چی درس را څخه تیر نه شي. ټولګی ته له رسیدو وروسته یو ملګری(رحمان الله کریمي) چې اوس د ترکی دازمیر په ښار کې د طب پوهنځی محصل دی،دی هم زما په څیر له ننګرهار طب پوهنځی نه ډیر په زړه پوری خاطري لري. دی وایی یو ورځ د اطلاعاتو او کلتور ریاست له مخي تیریدم چې د ننګرهار د طب پوهنځی د بیولوژی استاد دی هماغه استاد دی چی مخکی هغه خاطره مې چی تاسو سره شریکه کړی د همدی ده، په هر صورت دداکتر صاحب رحمان الله ورته پام نه وو شوی ،کله چی رحمان جان متوجه شو چی دی خو زمونږ د بیولوژی استاد دی نو بیرته په منډو شو او ورسره یی روغبړ وکړ، استاد ورته وویل چی نوم دی څه دی؟ دی ویل رحمان الله بیایی ترې وپوښته د کوم ځای یی.؟ ویل یی د لغمان ولایت یم ،استاد ددی نوم له ځان سره ولیکه وی ویل بی ادبه بیا به په امتحان کی سره ګورو ازموینه کی به دی زور وګورم...

په هر صورت داکترصاحب رحمان الله ماته وویل: ستا نوم انتظاراحمد نه دی ؟ ماو یل څه خبره ده وروره! هو دی، ویل تخلص دی همدرد نه دی؟ ما ویل دی ویی ویل وروره ! ستا نوم د ترکیی هیواد په بورسونو(تعلیمي سکالرشیپونو) کې دی. څه کابل ته ځان ورساوه، نن د کوم فورم د امضا کولو ورځ ده ،له ځانه سره مې وویل همدرده! په دی خلکو(لوړو زده کړو) باور په کار نه دی، د بورس په نوم به د پوهنځی له درسونو هم پاتی شئ، او بورس به هم نه شي.

که څه هم ځینې نورو ملګرو مې ویل همدرد صاحب! ډیری زده کړیالان چې تحصیلی بورسونو کې د نوم وتلو او د ټولو کارونو د خلاصیدو څخه وروسته هم پاتی شوی، بل ملګری مې غږ کړ چی همدرد صاحب! بغیر له دی چی واسطه د ډېل نه وي، نو بورس کې تګ ډیره مشکله خبره ده ! په هرصورت زه نو هغه کس یم ډیر څه مې له

پخوا دلوړو زده کړو وزارت په تحصیلي بورسونو کی دنه تګ په هکله اوریدلي او تجربه کړی وو!
ګرم هم نه یم ځکه ډیر ملګری می تحصیلی بورسونو ته لاره پیداکړی وه،
یا یی نو م د کامیابو هلکانوپه لست کې وو، په هرصورت ما ویل کریمي صاحب!
یاره! د خپلې بړستنې سره به پښي وغزوو ، زمونږ څه د تحصیلی بورسونو سره، دا ټول هسی تش په نوم خبری دي، هلکان له پوهنتونه پریږدي، که همداسی نه دی! ویل یی همدرد صاحب ! پیښیماني ګټه نه کوي، چانس دی ترې ګټه پورته کړه، که کیده، یا نه کیده، کیسه کی یی مه اوسه ! رحمان جان اضافه کړه چی هغه دی نه دی اوریدلي، چی څوک خوبونه کوی مینه یی نرکټی زیږوې!
دغه خبرو سره یی د ډاکتر صاحب تاج الدین ملت مل هغه خبره را په یاد کړه (چی ځوانانو چانس داسی دی چی د شپی ناوخته چی ټول په خوب بیده وی د هر یو تن د کور دروازه ورو ورو ټکوی که څوک بیده وی چانس بیا بل ور ته ځی تر هغه چی هغه تن چی دی چانس لپاره په وینښ ناست او ددی چانس د ورو ورو غږ نه په پوهیدو تر ی ګټه پورته کوی) .
دی خبری سره نــــــور را کې یو حرکت پیدا شو، د خپل پلار د فتر په لورلاړم ،ورته مې وویل: دغسی خبره ده. پلار مې وویل: زه یی پوښتنه کوم په هرصورت هغه چا سره چی وغږیده ،هغه پخپل دفتر کې نه وو، ماورته وویـــــــل: پلار جانه! که دی اجازه وی زه به کابل ته لاړ شم که څنګه؟
ویل څه بچیه !
له پلاره مې رخصت واخیست ، او دکابل په لور مې حرکت وکړ،له ښه ساعت سفر وروسته د لوړو زده کړو وزارت ته ورسیدم، په زړه کی می همدا خبری ګرځیدی چی ناوخته دی کړه ، د محصلانو امریت

ته لاړم، له داخلیدو سره یوه مامور را څخه د راتګ پوښتنه وکړه ، د وینا سره می ورته د بورسیی یادونه وکړهغه وویل: انتظار احمد ستاسې نوم دی؟! ماویل هو. ویل ډیر خوش قسمته انسان یی نن دبورسی دنوم لیکنې اخرنۍ ورځ ده ،دومره ناوخته راغلی یی ... څه ووایم امضا می وکړاو تری لاړم لا داداری ددروازی څخه نه وم وتلی چی ویی ویل همدرده! ستاسې ډله شاید راتلونکی اوونۍ پوری کارونه خلاص شي او په خیر به لاړ شئ ... یو عجیبه احساس را کې پیدا شوی وو ، زړه می یو څه ویل او خپله می بل څه؟

خیر څه به مو سر خوږوم لکه څنګه چی هغه مامور یادونه کړی وه هماغسی وشو د استاد نجیب سره چی راسره د نوی اذرخش په اکاډمی کی استاد وو ولاړ وم  دا کاډمی د پرمخ بیولو به هکله مو خبری کولی چی ناڅاپه می تیلیفون وترنګیده خو ترڅو چی می ځوابوو نو تیلیفون بند شو (قطع شو) ومی لید نمبر نو ی وو بیرته می زنګ ورته ووهه د تیلیفون زنګ چا نه ځوابوو ، څو ځلی می پرله پسی ورته په هماغه نمبرزنګ ووهه خو ځواب یی را نه غی استاد نجیب الله هاشمي راباندی غږ وکړ چی همدرد صاحب! پریږده کوم ځوان به د اذیتولو په خاطردرته زنګ وهلی وی ما هم ورسره د هو په ډول تیلیفون په جیب کی کړ( سایلنټ ) له نجیب استاد سره د خدای په امانی په وخت کی راته وویل همدرده ! تیلیفون دی وګوره چی د وزارت څخه درته چا زنګ نه وی وهلی ما ویل هو ربښتیا وایی تیلفون می غوښته چی له جیبه وباسم له نیکه مرغه چی بیا زنګ راغی نو د تیلیفون د ځوابولو سره یو ځوان غږ په دی ډول راغی: تاسی انتظار احمد همدرد یاست؟ ما ورته وویل: هو زما نوم انتظار احمد همدرد  دی، ویي ویل همدرد صاحب! تاسی مونږ سره د ترکی په بورسونو کی یاست، سبا ته له خیره تاسې ته پاسپورټونه سپاري، په همدی اونۍ کې مو سفر دی.

د همدی اونۍ په اوریدو سره، بلکل هک پک شوم، هغه وویل د سه شنبی په ورځ کرزی صاحب له تاسی سره ګوری او بیا به مود تګ ورځ د جمعی ورځ وي، خو بیاهم چې څه تبدیلی پکی رانشی نور نو په مکمل ډول ستاسی د پاسپورټونو کار خلاص شوی دي، له خیره یوازی تګ مو پاتی دی !

په زړه کی خوښ خو په وزارت ښه بی اعتباره وم ځکه خو یوه ډیره بده خاطره می تری د خپل نوم د بدلولو(تصحیح کولو) په وخت کې هم درلوده . په هر صورت خپلې خونې ته لاړم ، کمپیوټر می خلاص کړ، هغه کتابونه می چی ژباړلی وو او هغه کتابونو باندی می چی خپل ډیر قیمتی وخت مصرف کړی و، یو ځل وکوت او په زړه کی می دا خبره ګرځیده که همدرده! خارج ته ځی نو دا کتابونه باید کم څه کم چی یو څو یی له چاپه راووځی دده لپاره نه چی ما خپل وخت پرې ډیر مصرف کړی وو بلکی دا د هغه کسانو حق دی چی ددی کتابونو لوستل ورته شاید ګټور تمام شی په هر صورت یو د انګلیسی کتاب می تر چاپ لاندی او نور هم چاپ ته اماده وو، په هر صورت له ځانه سره ډیر خوښ ځکه وم چې د نورو حق به له ځانه سره نه وړم، پلار جان مې راته وویل: چی انتظارجانه! د تګ مسئله دی څنګه شو؟ ورته می وویل: پلارجانه ! وزارت خو د تګ خبره کوي، مګر زما خاص ګمان نه شي! وویل څه ویلی؟ ما ویل هغو خو په دی اونۍ کې د تګ خبره کوي او د سه شنبی په ورځ کومه لیدنه هم شته!

ویل وهلکه ځان نور اماده کړه د تګ خبره نه، بلکې تګ دی له خیره ! ما وویل صحیح دی پلارجانه! بیا مې زړه په دی نه ښه کیده ماویل ورکه همدرده! داسی نه چی هغه دریشی او پتلون هم درباندی تاوان شي ځکه مونږ خو په جلالاباد کې ژوند کوو !

ددوشنبی ورځ لس بجې وی، چی پلار جان می راته زنګ وواهه،راته یی وویل: لباسونه(کالې) دی د تګ لپاره اخیستی ؟ ما وویل: نه، ویل

راځه د(عمر شایق دسپورتس ټاور) پلورنځی ته زه همدلته یم، ما وویل ښه ده پلاره، درغلم د عمر شایق د پلورنځی په لور روان شوم،چې د مخابراتو د ریاست سره نږدې می خپل زړه ته نږدی ملګری داکتر صاحب عبدالحسیب تحریک ولید له ښه روغبړ وروسته د تیرو وختونو یاده مو وکړه، د ښوونځی دوران مو سره یاد کړ ، خبری مو کولی، په خبرو کې یی راته یاده کړه ،خیر خو به وی همدرد صاحب! ولی دومره په بیړه یی!؟ ما وویل: داکتر صاحب خارج ته د زده کړی لپاره ځم(ترکیې ته د تللو کیسه) می ورته په لنډو ټکو بیان کړ، دی ډیر خوشحاله شو او لا یی تشویق کړم.

وایی ښه ملګری هماغه دی چی په درد دی دردمن او په خوشحالي دی خوشحاله شي،په هر صورت له داکتر صاحب تحریک سره د خدای په امانی وروسته عمر شایق پلورنځې ته ورسیدم ، پلارجان می راسره وو، ویل یی لباسونه ځانته خوښ کړه،په هر صورت د ددی پلورنځی پلورونکی هم ماشالله داسی کس وو، چی تابه ویل سم د هغه کس په څیر وو، چی د خبرو په سحریی ځانته ښځه کړی وه، سم د خبرو کوټ ګر وو، زماله پلار سره یی پیژندل، په هر صورت راته ویل یی ځوانه! (ترک ها مردم های شیک پوش هستند، چیز های برای تو بدهم که ترک ها هم حیران ماند، چرت نزن برادرزاده که کوت از سرش نه پرید باز بګو که والله کاکا د جان ما زدی) یو څو جوړې لباسونه(کالې) یی راته خوښ کړه، زما هم خوښ شو ،هو رښتیا لا مو د اخیستلو شیانو پیسې نه وی تحویل کړې چې صافی صاحب (ژورنالیست) زما د پلار سره یی له پخوا پیژنده ،دروغبړ وروسته ، خبره زما د تګ په هکله راغله، پلورونکې وویل انتظار جان به لـــه خیره په همدی ورځو کـی ترکیی ته ځي،

صافی صاحب د ټو کو به بڼه راته وویل چی همدرد صاحب ! ترکیه ډیر ښکلی ځای دی ، دانسان زړه په کی نه تنګیږی، د هند په څیر زړه

تتګوونکې نه دی ! انتظارجانه! ډیره ګټه دی کړی، ماوویل: زه درس ته
ځم نه چکر ته، ویل یی په هر صورت ترکیه ډیر ښکلی ځای دی .
محمد نذیر(پلورونکې) وویل:دالله (ج) له نظام نه ځار شم ټول ښایست
یی ترکانو ته ورکړی دی، صافی صاحب پری غږ وک،ړ رښتیا هم چی
ترکان ښکلي دی مګر د مماتی باش ( ترکی اداکار) پرته.
ټولو دصافی صاحب (ژورنالیست) له دی خبرو سره په کړس کړس
وخندل ، په سبایی د کابل په لور روان شوم ،د لوړو زده کړو وزارت
کې له ښه شیبې انتظار وروسته د کنفرانس تالار ته یی وغوښتو، له
تشریفاتي خبرو وروسته د لوړو زده کړووزیر پروفیسور داکتر
عبیدالله عبید وو، دی د خپلو خبرو په جریان کی د ددی بورسونو د
اهمیت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړلې، او ویی ویل: له تاسو مونږ
او داځوریدلی ټولنه ډیرې هیلې لرو، تاسې ځوانان(زده کړیالان) چی
لوی متخصیصین شي بیرته خپل هیواد ته راستنه شی، او د ی
ځوریدلي ولس ته خدمت وکړئ، له کنفرانس وروسته محصلینو(زده
کړیالانو) ته د هغوي پاسپورټونه او هم یی هغوي ته د دوه میاشتو
پیسې مخکی له مخکی ورکړلې،دبورسیی مسئول مدیر وویل: ترڅو
چی ستاسې بانکي کارتونه اود اقامت کارتونو کار خلاصیږي ، تاسې
له دی پیسو څخه ګټه پورته کوی،هو رښتیا د طیارې ټکټونه به د جمعی
ورځ په هوایی ډګر کی در کړو ،زړه می دا راته ویل یی چې همدرده!
نور نو لکه چی د ا خلک ټوکی نه کوي،ممکن د تګ خبره وي، په همدی
سوچونو کې وم، چی زما د مشر ورور افتخار احمد همدرد زنګ
راغی، دی نو دم ګړی په هند کې په زده کړو بوخت دی (پای کال) یی
په خلاصیدو دی ،په سکایپ کې راسره غږیده ، ویل یی څنګه یی
انتظار جانه؟ ما ویل ښه یم، ښه دی شپې سبا کیږي، ویل یی ځوانه !
څنګه خوشحاله یی ! ترکیی ته دتګ کیسی می ورته وکړی، ویل یی

چورت مه خرابوه هلکه! ډېرتشویش کوی، ما ووېل:خوشحال خان خټک ډېر په ځای ویلي:

چی مدام په یوه حال وي، بیا یی وګڼه چی خدای(ج) دی
کــــــــــــــــه چیری انسان وي، کله خنګه او کله څنګه

راته ویل یی ګوره شاعر شوی هم یی، ما ووېل نه وروره! ما ورته ووېل، زما شعر نه دی ، دی خبری سره مو ښه وخندل ... د ورور سره د خدای په امانی وروسته د ترکی په فکرونو او سوچونو کی لاړم، عجیبه خیالونه، عجیبه عجیبه خبری ،د سړی ذهن ته راځي . دشپی لس بجی وی ،چی کورته ورسیدم ،د دروازی په انګړ کې مو رڼا یی روښانه وه، پوه شوم چی د ترونو می مالونه(دګاډرو تجارت) رسیدلی دي، په هر صورت له رسیدو سره ، می له خپلو ترونو زامنو سره سترې مه شی وکړه، په خنګ کی می انجینر محمد نور تلاش چی دی نوی له انجینری پوهنځی فارغ شو ی وو، دی راځخه د خارج تګ پوښتنه وکړه، ما ورته ټوله کیسه په څو ټکو کی بیان کړ راته ووېل بچو لال ډېر متوجه ووسه ګوره په دی خلکو باور په کار نه دی زه یی دامریکی له تګه پریښودم زما هم کارونه ټول خلاص شوی وو خو بس د پرواز په وخت کی هر څه تغیر وکړ ...نور.

سهار د معمول سره پوهنتون ته لاړم، پوهنتون کی راته ډېرو ملګرو ویل همدرده ! هغه هلکان چی په بورس کی له تاسره دي، یو هم پوهنتون ته نه راځي او ته ... ما ویل وروڼو په دی خلکو باور په کار نه دی، هسې نه چی له تګ او پوهنتون دواړو څخه پاتی شو ، ټولو راسره د خبرو د منلو په ډول ووېل بلکل همداسی ده، یو غږ کړ ویل هست که متوجه باشی!. یی همدرد جان! اینجا بازار خربوزه

په هرصورت په سبا می چی تګ وو، پوهنتون ته لاړم د پنجشنبی په ورځ می پلار جان راته ووېل چی دغه ورقه همیشه او هره ورځ ولوله د هوّپه ښه می ورته سر وخوزاو هغه د یوحقیقی پلار نصیحتونه یی

راته وکړ بس کاغذ می په جیب کړ او بیکونه می واخیست او له کوره د ترکی په نیت د کابل په لور روان شوم، بس زړه می هم ځکه ارام وو چی ټولو خپلوانو او ملګرو سره مې خدای په امانی کړی وه، د کوره د وتو په وخت کی دوه ملګري محمد داود قریشي (لیکوال اوشاعر) او استاد نجیب الله هاشمي ( دنوی آذرخش تعلیمي مرکز مسئول) چی زما د خوږو ملګروو څخه د ي، راسره ټینګ شو چی تر کابله خو په هر قیمت چی وي درسره ځو ،مګر ما ویل ظالمانو زه یوازې ځم، هر څومره چی ورسره ټینګ شوم، ګټه یی ونه کړه بس هماغه خبره ده وایي: د پښتون یوه خبره وي، زور یی راسره وکړ ،مګر د مخابراتو تر چوکه راسره راغلل، نو ر نو زه ورسره کلک شوم چی که تاسی راسره کابل ته لاړ هم شی بیا هم جدا کیږو، دغه افغانی مینه چی زمونږ ډیر ښکلی کلتور دی،وا قعا خوندور هم دی، څه ووایم اوریدلی می ووچی له خوږو ملګرو سره د ډیر وخت جدا کیدو په و خت کی دا یو بل ته غیږ ورکول عجیبه خوند او کیفیت لري، خو خیر بس د محمد داود قریشي او استاد نجیب الله سره د خدای په امانی په وخت کی واقعا په ځان یی ډیر زهیر کړم، نور نو مونږ یو له بله سره خدای په امانی او غیږه ورکړه، په دی ډول څوځو ځلی مو دا کار تکرار کړ ، د ډرایور ماما غږ به راته چی پریږدی دا شهزاده که نه، هو ریښتیا ترټولو خو سخته خبره داده چی سړی کوم مشکل ولری خو د ځینو ملګرو د نه خپه کیدو په منظور بیا سړی خپل احساسات بدل کړی، لکه که د سړی کوم خپلوان مړ شوی وي، مګر د کوم ملګری د خوشحالی د نه خرابیدو په خاطر د هغه په خوشحالیو کی ځان خوشحاله ساتل ، دا واقعا ډیر سخت کار دی، څه ووایم درته د ملګری( نجیب الله ) د پلار هغه خبره رایاده شوه چی دی ویل بچیه ! کله چی زه ځوان وم نو د یو چا زوی مړ شوی وو، نو ما ویل خیر دی بل زوی به خدای درکړی، ولی دومره تشویش کوی؟ مګر ډیره دحیرانتیا

خبره داوه، کله چی زما یو ه لورکی مړ ه شو نو بیا راته دهغه بابا د زړه د درد ښه پته ولګیده.
د مورسره د خدای په امانی په وخت کی نو سړی که هر څومره زورور او سخت زړه وي، حتما یی دمور جانی نه د جدا کیدوپه اثر په سترګو کی اوښکې راځي ... څه ووایم د ا نو لا سخته شي، چی تاسره د تګ بیک وي ، مور جانه درته ګوري، ته شاته له دی خاطره ونه شی کتلی چی مور زما په خپه کیدو لا خپه نه شي، دومره سخت حالت دی چی له ځان سره می وویل ترڅو چی می ټولی زده کړی پای ته نه وی رسولی نور نه راځم ....
ملګرو په ژوند کی به تر دی لویه سخته څه وي ( ما لانه ده تجربه کړی) چی د مور سره د جدا کیدو په وخت کی سړی دومره خپه کیږي.
ښه په هر صورت په موټر کی کیناستم دا ځل نو کابل راته د پخوا په پرتله ډیر متفاوته وو . بس ډیر عجیبه احساس مې کاوه، د تیر ژوند په یادونو کی لاړم داسی می دا تیر ژوند له سترګو تیر شو، لکه چی یو تن د خپل واده وروسته د خپل واده کیسیټ وګوري.
خیر په همدی فکرونو کی وم چی کابل ته ورسید،م یو ملګری می پامیر صاحب وویل چی همدرد صاحب ! اخره شپه خو دی حتما له ماسره ده، د پامیر صاحب له ډیر ټینګار وروسته ددوی کورته لاړم، ډیر خوښ په دی وم چی دوی په کابل کی هم ښایسته حجره درلود، ما خو ځکه زړه نه ښه کاوه، چی د حجری مشکل ونه لری نو ریښتیا پرځای یی ویلی چی پښتون به په جنت کی هم د حجری او دیری لرونکی وي، خیر د پامیر صاحب سره لا په خبرو بوخت وم چې عبادالله سالارزی (د حقوقو پوهنځی محصل) زما ډیر پخوانی ملګری او یار راته زنګ وواهه، چی شپه به دی له ما سره وي ..... سالارزی صاحب راسره ټینګ شو ویل یی چی همدرد صاحب! اخره شپه دی باید حتما له

ماسره وی،د پامیر صاحب زړه تنګ شو ویل یی ځوک دی؟ ماوویل سالارزی صاحب دی. ویل څه؟ دوی(عبادالله او پامیر) ډیر ښه ملګري دي، تیلیفون یی رانه واخیست، پامیر صاحب ورته وویل:
ډیرې خبری مه کوه راځه زموږ حجری ته، په منډو راشه...
لس دقیقی نه وی تیری شوی چی سالارزی صاحب راغی، له ښه روغبړ او ګیلو ، ګذارو وروسته مو د شپی ډوډی وخوړه، بیا مو ښه ساعت سره ګپ شپ ولګاوه، تیر وختونه مو رایاد کړه ، سهار له لمانځه وروسته مې د لوړو زده کړو وزارت په لور حرکت وکړ، سالارزی صاحب او پا میر صاحب راسره تر وزارته لاړ، د وزارت مخی ته له رسیدو سره می ولیده چی اخرنی کس زه یم چی موټر ته جګیږم،دعلی جان په نوم یوتن چی د محصلینو(زده کړیالانو) رهبری یی په غاړه درلود پاسپورټ یی راته راکړ او بیکونه یی راسره ځای په ځای کړه .
مګر د نجونو د لیدو سره چې په سفر کی له موږ سره وی، دنور محمد لاهو د(تکې سرې سترګې) کتاب، هغه کیسه چی لاهو صاحب ډیر په ښکلو کلیماتو دهغه پلار کیسه چی دده لور ورته ویل چی زه غواړم له خیره په راتلونکی کی ډاکټره شم ، پلاریی ویل چی کور په ښځه ښه ښکاری نه روغتون، کله چی دده ښځه په ماشوم مریضه وه، روغتون ته یی وړی وه، صحی وضع یی دومره خرابه شوی وه چې عملیات ته یی ضرورت وه، د عملیات پرته یی بله څه د حل لیاره نه وه، ډاکټران د نجلی پلار راغواړي، او ورته وایي دا دوسیه امضاء کړه ! دی وایی: ولی؟ مګر ډاکټر ورته وایی:خبرې مه کوه کاکا جانه ، امضاء وکړه، وخت نه لرو ، دنجلۍ پلار وایی: زه خو په امضا نه پوهیږم ،ډاکټر وویل: ګوته پری ولګوه، ویل یی بچیه دا د څه لپاره دی؟ ډاکټر وویل: داد ماشوم د مور د عملیاتولو لپاره رسمي دوسیه ده ، د نجلۍ پلار وویل: دا عملیات به څوک کوي؟ ډاکټر په کړس کړس

وخندل ، ویل یی عملیات به ډاکتر صاحبان کوي، د نجلۍ پلاروویل:
پوهیږم چې عملیات به ډاګتر صاحبان کوي ، مګر بچیه دا ډاکتر
صاحبان ښځې دي که نر؟
ډاکټر ویل: ښځې ډاکټرانې له کومه شوې کاکا جانه، دنجلۍ پلار ښه په
سوچونو کی لاړ، دلورکۍ خبره یی رایاده شوه، پلار جانه! زه غواړم
چی ډاکټره شم،سپین ږیری کاکا(دنجلۍ پلار) یو دمی له خپل ځایه
راپاڅیده او په چیغو چیغو یی دا خبره تکراروله :دا دغیرت مسئله ده.
په همدی فکرونو کې وم، چې دماما زنګ مې راغی، ویل یی : څنګه یی
انتظار جانه؟ ما ویل ښه یم، دالله (ج)احسان دی، هغه وویل: ته راغلی
وی خو زه په کور کې نه وم، ځکه می درته زنګ وواهه، لا د ماماسره
په خبرو کې وم، چې دحامد کرزي نړیوال هوایي ډګر ته ورسیدو ...
په هوایی ډګر کې له ډیرو مشکلاتو له لیدو وروسته ایله هغه ځای کې
منتظر شو،چې نور نو د تګ وخت یا الوتکی ته د اخلیدو لپاره خلک
منتظر وي.هغه شل دقیقی هم تیری شوی او بلاخره د اریانا افغان
هوایی شرکت الوتکه کې پورته شو.
په الوتکه کې دناستی سره ومی لیده، چې ځای می له هغو کسانوسره
دی چې هیڅ می نه پیژنده، له ناستی سره می ورته د روغبړ په بڼه
سلام واچوو .څنګ ته می یو ښکلی ځوان چې د ۲۴ یا ۲۵ کلوپه عمر
وو، په ډیره خوشحالۍ سره یی راسره روغبړ وکړ، ویل یی ته ما نه
پیژنی ،مګر زه تا پیژنم. خیر لا مسافرین الوتکی ته پورته کیده چې ما
او دی خبری کولی، ویل یی ترکیه کی څه کوی همدرد صاحب؟! ما
ویل ځان دی راته معرفی نه کړو، او ربښتیا څنګه می پیژنی؟ هغه
وویل نوریی څه کوی، زه په ترکیه کی شخصي زده کړې کوم (اقتصاد
پوهنځی ) وایم. او ستا یوه مرکه مې له لمر تلویزون څخه لیدلی وه.هو
ربښتیا را په یاد شو، کله چې د ښوونځی په یوولسم ټولګی کې وم ،د

لمر ځرک په نوم د لمر ټلويزون په سهارنۍ خپرونه کې ميلمه شوی وم،چې زما د لاسته راوړنو په هکله يی راسره مرکه کړی وه.

ورته مې ويل وروره! د لوړو زده کړو لپاره ترکيی ته روان يم. ويل دا خو ډيره ښه خبره ده، په همدې خبرو کې وو، چې الوتکې د تګ لپاره ځان اماده کړ او په حرکت يی پيل وکړ، د ځنګ ملګری مې راته وويل همدرد صاحب! کليمه دی په ځان ووايه دا داريانا الوتکه ده.!

هو ربښتيا ددی خبروسره می سمدواره د ډاکټر صاحب غورځنګ خبره راياده شوه،ډاکټرصاحب ويلی وو، همدرد صاحب کله چې له امريکي افغانستان ته راتلم، نو تر متحده اماراتو د الوتکې سفری خدمات ډير په لوړه سويه وو، بس په متحده اماراتو کې چې پخپلو الوتکو کيناستو نو راسره ځينی خارجيان هم وو،هغه الوتکه کې چې له متحده امارات يی د کابل په لور راوړلو ډيره په زړه پوری وه.

ماوويل: ډاکټر صاحب هغه ځنګه؟ويل يی په الوتکه کې ناست وم ،چې د چای راوړلو په وخت کې هغه زمونږه غټ ،غټ ديره يی ګلاسونه اووطني د چايو ترموزونه ، د چايو له ترموزو خو يی مه پوښتې، سم دا مير پټتوس د وخت په ګلاسونو کې چای راکړل، داسی ګمان مې وکړ، چی د کوم پښتون په ديره کې ناست يم ... ماو يل که دکليمې ويل دی دډاکټر صاحب په خير له چايو شکايت وي نو پروا نه کوې .دی خبرو سره يی ښه په کړس کړس وخندل ورسره ناست بابا هم له خندا شين شوی وو،بس الوتکې په حرکت پيل وکړ، کله کله به ربښتيا هم الوتکه خوځيده ، دوه ساعته وروسته الوتکه يو واری په خوځيدو شوه ځينو ويل دسمندر له پاسه چې الوتکه تيريږی نو داسی خوځيږي ځينو خو به لا ويل کله چې د غرو له پاسه الوتکه تيريږی نو داسی کيږی .... د ځنګ ملګری مې وويل چې همدرد صا حب! د ا د وطن الوتکی دی ددی الوتکو همزولی ونه پاتی نه شوه ، ما وويل ددی خبرې په معنا دی پوه نه شوم . هغه وويل همدرد صاحب! کوم ډرايور د جلالاباد نه

کابل ته د( لته بند) په لاره تله، یو خو لاره ډیره خرابه وه، بل نو ددوی موټر هم ډیر زوړ شوی وو. چې ځان یی نشو وړلای، خو دی ظالمانو دومره بار پری بار کړی وو، چې ایله په ټیلو ټیلو یی حرکت کاوه. ډرایور پر کلینر غږ کاوه چې ولی دا موټر ورو ځي؟ د کلینر او ډریور یی هم ځاره شنه کړې وه ،بالاخره په کومه چړایی (میل لرونکې سړک) برابر شوی وه، نو باډی له موټره جدا شوه، او لاندی ترې وغورځیده ، موټر سپک شو، کلینر په ډرایور غږ وکړ، چې استاده ،استاده! باډۍ ته ګوره ، استاد (موټر چلونکی) وویل ظالمه باډۍ پریږده، کش ته ګوره.

همدرد صاحب دا هم کله کش واخلي او کله ... خیر په همدی خبرو کې وو، چی د الوتکې ویناوال( هوایي خدمتګار) وویل: ګرانو مسافرینو تر شلو دقیقو وروسته به انشا الله د انقری په ښار کې د نیم ساعت لپاره الوتکه ناسته وکړي، هغه ګړۍ هم راورسیده ،چی له طیارۍ ښکته کیدو لپاره وویل شو، له هغه څنګ ملګری سره مې خدای پامانی واخیسته، له نورو ملګرو سره یوځای د انقری هوایی ډګر په لور، د پاسپورټونو له ټاپه کولو وروسته مو سفري بیکونه واخیست، اود میدان په یو طرف کې ودریدو. هو رښتیا له ښه ساعت انتظار وروسته، یو کس د ډاکټر دهزاد په نوم زمونږ خواته راغی، دی په تن غټ اود لوړې ونې خاوند و،ویل یی ځوانانو څنګه یاست؟ ستړی شوی خو به نه یی؟ دوطن په هکله یی هم ښه وپوښت، له هر چا سره یی خبری کولی، له هرې پوښتنې سره به یی د سګریت نه یو لوګی کش کولو ویل یی: وهلکانو! ګروپ ،ګروپ شئ، ویل د جی بی جی دلیلیی کسان، د بالګات دلیلیی کسان، د اتاترک دلیلیی کسان... په همدی ډول یی ځوانان وویشل، په مختلفو موټرو کې یی کینول، په کوم بس کې چې مونږ سره نور ملګري وو، ټول یی په لیلیو وویشل ، مونږ څلو ر کسان په بس کې پاتی شو. داسی کسان راسره وو، چې پخوا می

هیڅکله لیدلي نه وو . د بس ډرایور(موټر چلونکی) یو کل سری (ګنجی) ، د ښه اندام او جسمات خاوند ترک و، دی به د ښار په هر کنج کې دریدلو او په هر هغه کس به دی پخپله ژبه یوه ملنډه وهله ،له ځانه سره مې وویل: چې مشرانو په ځای ویلي : خپل عیب دولو منځ ، د بل عیب د کلو منځ .مونږ هم یوې لیلیی ته ورسیدو، او مونږ سره هغه کس چې زمونږ ( ددی بس ) ګروپ محصلینو(زده کړیالانو) مسئولیت یی درلود. د شجاع الدین په نوم یو تن(یو ازبک)و. لیلیی ته له داخلیدو وروسته، ما له ځان سره وویل همدرده! چرت مه خرابوه، هسی به له مشکل سره نه مخامخ کیږو. ځکه دوی خو به په حتما په انګلیسی ژبه پوهیږي، خیر څه به مو سر خوږوم، د لیلی کارکونکې د ملانصرالدین په اندازه هم په انګلیسي ژبه نه پوهیده، خیر په هر صورت شجاع الدین په منډه د لیلیی له دفتره ووته ، زه هم ورپسی شوم، ما ویل زمونږ نوم لیکنه څنګه کیږی!؟ هغه وویل په انګلیسي ژبه پوهیږې ما ویل: هو زه په انګلیسي ژبه پوهیږم،مګر دا نابغه ګان نه پوهیږې.. ! ډیر په بی سترګی راته ویل زه خو ستا د ثبت نام کولو مسول نه یم .. خیر هغه وایی بنده حیران ، خدای مهربان. ښه وو راسره یو ملګری مې ازبک او دافغان ترک له لیسی فارغ وو، دی نو په ترکی ژبه پوهیده. نوم لیکنه مو وشوه، دری کسان د کانکور عمومی اولنمره (ذبیح الله شاکر) اود جوزجان ولایت دافغان ترک لیسې عمومي اولنمره (محمد خالد فروغ) او زه پخپله، په یو اطاق کې راغلو خو مخکی مو یو بل سره هیڅ نه پیژنده ،هو ربښتیا د لوګر ولایت د ولایت په سطحه عمومي اولنمره ( محمد ایوب محبوب) له مونږ څخه بیل بل کوټې ته راغی، بیکونه مو واخیسته ،هر څه ته مو داسی کتل، تابه ویل چې کوم کلیوال کس له کلې ښار ته راشي. بس هر څه بدل وو، خیر اطاق ته ورسیدم اطاق کې له ننوتو سره می د کوټې کسانو ته خیال شو، یو تور پوستی له دو ه منزله چپرکټه وخوځید، لا د هغې د

ځیرې هیبت زمونږ په ځان کې وو، چی بل تورپوستی  چې زیر پیراهنې یی په تن وو ،ځان په بل اړخ کړه ،  دومره غټ وو، چې د ځان اړولو په وخت کې سړی داسی ګمان کوو، چې ټول چپرکټ له ځان سره اړوي. یوه کوچنی ورقه یی راکړی وه، په هغې کې د کوټې شمیره او د چپرکټ شمیره لیکل شوي وه، له بده مرغه زما ځای د همدی غټ تورپوستی له پاسه وو، زمونږ له دریو کسانو څخه یوهم په لاندی چپرکټونو کې نه وو. یو بل تور پوستې چې ګوشه کی یی په غوږ  کې وو، دومره یی د موسیقی غږ پورته وو، چې حتا مونږ یی هم په عذاب کړو .سره له دی چې دی دهغه بالښت کور وران کړی وو، کله به یی بالښت یو خواته کیښود او کله به یی  بل خوا او د موسیقی د اوریدلو سره به په ناسته ګډیده، او کله به یی ځان وهه ،دومره به یی ځان وواهه ،چې هندو به خپل ډهل دومره نه یی وهلی. حیران وم ، له ځان سره مې ویل  چې همدرده! دا ترکیه ده که افریقا !

اوله شپه د مسافری داسی وي لکه د قبر اوله شپه، له هر څه سره نوی یی، ملګرو مه یی پوښتی چې د مسافری اوله شپه څنګه تیریږي، په همدی فکرونو کی وم،چې خپل چپرکټ ته چی دوهم منزل کی وو، جګ شوم اوس نوفکر کوم چې همدرده! څنګه به خوب کوی،چپرکت هم په دوهم منزل کې او دواړه خوایی هم خلاص، یو خواته یی بخاری بل خواته یی کانکریتی فرش وو، حیران حیران می دوی ته کتل چې دا امکان لری چې زه دداسی محیط سره عادت وکړم، خو خیر د ادم( ع) اوبی بی هوا (عنها) له جنت څخه ځمکې ته راتګ او له ځمکې سره د هغو عادت کول، په دی قانع کړم چې همدرده! عادت به شئ !.

خیر شپه په همدی پریشانیوتیره شوه، هغه شپه هم سبا شوه ... اوس نو دوه دری ورځی کیږي، چې له کوره مو چا زنګ نه دی وهلې، له ځانه سره مې وویل،  ولی راته له کوره څوک زنګ نه وهي؟ ماچې له دی لوری هر څومره کوښښ کاوه ،زنګ نه تللو، بالاخره مې یو د تره

زوی (ابراهیم صافی) ته زنګ وواهه. او په تاکید می ورته وویل: چې زمونږ کور کې یاده وکړه چې زه په خیر رسیدلی یم، دا می د تیلیفون نمبردی بس ... په ځلورمه ورځ سهار وو، چې له خوبه د تیلیفون غږ پورته کړم، بی له ځنډه می تیلیفون ځواب کړ. د تیلیفون پر کرښه راسره زما کوچنی ورور شبیر احمد همدرد وو ، ویل یی لالا خنګه یی؟ څنګه یی؟ ما ویل ښه یم شبیر خانه! بیا له موراو پلار سره و غږیدم ، نور نو ددی په تشویش کې وم، چې پوهنتون به کله پیلیږي، ژوند به دلته څنګه تیریږي. ... حیران وم، د اقامت کارونه مو خلاص کړ، د لیلیی لپاره د نوم لیکنې کارونه مو هم خلاص کړل، ما لا د اګمان کاوه، چې پوهنتون به نه وي پیل شوی ، په لیلیه کې می د کابل د طب پوهنځې استاد محمد ابراهیم اعظیمي سره ولیدل، له پیژندګلوی وروسته یی راته وویل: تاسی ولی دومره ناوخته راغلی یاست؟ د پوهنتونو پیلیدو څخه دوه، دوه نیمې میاشتې تیری شوي، ما ویل استاده! سفارت خو په دی هکله مونږ ته څه ونه ویل، که نه په کراتو کراتو مو سفارت سره خبری وکړې، چې وروره! مونږ خو په دی ژبه نه پوهیږو، زمونږ د پوهنتون نوم لیکنه به څنګه کیږي، لومړی خو چا تیلیفون نه ځوابو، که یی ځواوبو نو ویل یی: بلد یږی تشویش مه کوئ هماغه ملګری مو چې په ترکی ژبه پوهیدو،حیران په دی وو، چې خدایه! دا نو څه په غضب واوختلو، دهر یو تن هدف معلوم دی ، مونږ نو داسی په دی ښار کی ګرځیدو لکه اصحاب کهف چې له خوبه راپاڅید ،او ښار ته په تګ سره یی هیڅ هم په یاد نه وو، هر څه ورته نوي وو . له ځان سره مې وویل :چې رښتیا هم که یو کس په دوه ژبو پوهیږي نو دوه کسه دی، او د هغو خلکو له عذابه په امان وي . شاعر خومره په ځای ویلي:

دبل ژبه یادول لوی کمالې دی .... خپله ژبه هیرول بی کمالي دی

له پوښتنو، پوښتنو وروسته مو بلاخره پوهنتون پيدا کړ، پوهنتون ته لاړو له ښه شيبې ګرځيدو مو د نوم ليکنې دفتر پيدا کړو، له ننوتو سره مو سلام وکړ .... بس دوی همدا خبره ټينګه نيولی وو، چې په دی دوه مياشتو کې تاسی چيرته وی؟ ددنوم ليکنې وخت خلاص شوی،اوس مونږ نوم ليکنه نه کوو، له سفارت سره په تماس کې شو، ډاکټر دهزاد وويل : کار مو کيږي، خير کوری يی ودان بلاخره ډاکټر دهزاد ترکان په دی قانع کړل، چی نوم ليکنه مو وکړي ،مګر ترکانو ويل تاسی به دغه کال(لومړې کال) ژبه ووايی. حيران يی کړم چې خدايه! اوس نو څه وکړو يو کال به په ژبه تيروو... دکانکور عمومي اولنمره زبيح الله جان او دلوګر د ولايت په سطحه عمومې اولنمره محمد ايوب محبوب تر ما وړاندی د پوهنتون د ژبی خانګې ته ورغلی وو، خير زبيح الله جان د کانکور عمومي اولنمره له ماسره يوځای د ژبې خانګی ته لاړو، راسره د انګليسی ژبې په برخه کې چې څه ديپلومی او اسنادونه وو، له ځانه سره می واخيستل، د زبيح جان د ی کور ودان وي، تر آداری هم راسره لاړ، آداری ته لاړو ،خو پرچوکی ناست کس چې دانګليسي ژبې د برخی ټول مسئوليت دهمدی په غاړه وو، له ځان سره مې وويل چې همدرده! د ارامه کيناستلو وخت نه دی، په انګليسي ژبه مې ورسره خبری پيل کړی، د خبرو په وخت کې يی راڅخه د ترکيی په هکله وپوښتل، دترکانو دژوند په هکله...؟

ما ورته وويل: زه ستاسې د اوسنې ټولنې په هکله دومره نه پوهيږم،خو د ترکانو داسلامي امپراطورۍ ، جغرافيای موقعيت او ستاسې د پخوانۍ ټولنې په هکله مې کتابونه لوستي... په همدی وخت کې می ورته خپل اسنادونه او ډيپلومی چې د انګليسې ژبې په برخه کې مې ترلاسه کړی و، و ښودل . ويل يی: ته خپل وخت په ژبه ويلو مه تيروه ، لاړشه د آزموينې لپاره چمتوالې ونيسه! ځکه ته په انګليسی ژبه پوهيږی،پوهنتون پيل کړه ،ولی خپل يوکال ضايع کوې ، په همدی

وخت کې د طب پوهنځی رئیس هم اداری ته را ننوته، هغی سره یی زما په هکله خبری وکړی، ویل د پوهنتون له پیلیدو دوه میاشتی شوی یعنی دوه کمیټی (د ترکېې دطب پوهنځې درسي سیستم دی) تیری شوی ،که د ژبې په ازموینې کې بر یالی هم شي ، پوهنتون مشکل دی نه کیږي. خو دی کس ورته وویل: ایا تاسی اجازه ورکوې چې که دژبې له ازموینی تیر شی پوهنتون پیل کړی؟ هغه وویل هو ولی نه! پلار ته مې زنګ وواهه، ما وویل دغسی مسئله ده ، پلار مې وویل: بچیه! زه په افغانستان کې او ته په ترکیه کې زه به څنګه مشوره درکړم، ویل یی که په ځان باور لری،پیل یی کړه! له ښه فکراو سوچ وروسته آداری ته لاړم، ما ویل صحیح ده ،زه غواړم د ژبې ازموینه ورکړم او پو هنتون پیل کړم، هغه وویل: یوه اونۍ وروسته به دی ازموینه وي، تر هغې د اډوانس کلاس کې کینه، ما وویل ښه ده یو کو چنی لیکلی خط یی راکړه. خیر له ډیرو پوښتنو وروسته مې بلاخره ټولګی پیدا کړ، ټولګی ته له داخلیدو سره ټول حیران شول، ما استادې ته هغه پرزه د خط ورکړه،استادې وویل: کولای شی په ټولګې کې کینې! خو بیا هم نورو ټولګیوالو به په ډیره حیرانتیا سره ماته کتل زه هم حیران وم، چې څه خبره ده؟ خو استادې چې ګامزه ګاوون نومیده، وویل یی: خیر دا ټولګی د ژبی په برخه کې، ډیر پورته ټولګی (اډوانس کلاس) دی ،ځکه ټول درته حیران حیران ګوری په همدی خبرو کې می ورسره په انګلیسې ژبه خبری پیل کړی، له پیژندګلوۍ وروسته مې په لوست کې ونډ ه واخیسته، یو څو پوښتنې مې ورته ځواب کړی، لا یی لس دقیقې تدریس نه وو،کړی چې د تنفس په نوم یی تفریح راکړه. نو حیران خو زه هم په همدی وم، کله چې دننګرهار په طب پوهنځې کې به مو د اسلامیاتو ساعت وو، نو استاد به ویل چې د ا شرعا حرام دی، چې نجوني او هلکان دی یوځای درس ووایی. باید په

يو اسلامی هیواد کې د نجونو او هلکانو ټولګي سره جدا وي، او حتا استادان یی هم.
د حیرانتیا خبره ځکه وه، چې په ننګرهار طب پوهنځې کې به زمونږ ټولګیوالې(نجونې) ډیری خو په چادری کې وی اود ځینو به حجاب وو خو دلته که څه هم ما د ترکیی په هکله داسی لوستی وو، چی ترکیه یو. اسلامی هیواد دی، د اسلامې امپراطورۍ مرکز هم وو،خو نو دلته نو بیا په پیل کې چی ټولګی ته ننوتم عجیبه منظره می ترسترګوشوه، نجوني او هلکان سره یوځای ناست وو، او په داسی ډول یی یو له بل سره ټوکې ټکالی کولی ، چې تابه ویل دوی سره شرعی نکاح کړی وي. خیر له دی سره سره یی داسې لباسونه (کالیې) په تن کړی وو چې حتا زه یی د لیکلو توان په ځان کې نه ګورم، ما ویل همدره! په ټولګی کې شاید داسی وي، د باندی به بلکل داسی څه نه وي، د خالد کرد په نوم یو ترک ټولګیوال څخه می د مسجد پوښتنه وکړه ، داسی یی راته وکتل چې سړی له کوم هندو څخه د مسجد پوښتنه وکړې، خالد وویل : ښکته لاړ شه مسجد شته، زه هم د ټولګې څخه دباندی ووتم ، خو له ډیرو ګرځیدو وروسته مې مسجد پیداکړ، د لمانځه د اداء کولو وروسته بیرته د ټولګې په لور روان شوم. خیر حیران په دی وم، چې ټول ټولګي کې یو یا دوه هلکان وو، نورې ټولی نجوني وې، خیر د تفریح په وخت کې یو هلک له ترکانو څخه چی په همدی ټولګی کې وو، زما څنګ ته راغی، او خبری مو سره وکړی، دی ډیر څه ویل غوښته ،خو له بده مرغه چې د تفریح ساعت خلاص شو. ټولګی بیرته پیل شو، بیا یی یو درس همد اسی د فلمونواو فلمي اداکارانو په هکله وو، استادې له ما څخه څو ځلی وپوښتل، که کوم فلم دی لیدلی وي، نو دهغی په هکله وغږیږه؟! یو فلم مې د (باغبان ) په نوم لیدلی وو. د نوم له اخیستو سره ټول حیران شو، چې په دی نوم به هم کوم فلم وي، استادې (ګامزه ګاوون) سمدستې د انټرنیت مخ خلاص او په ګوګل کې

دنوم له توړلوو وروسته پوه شو ،چې د باغبان په نوم فلم شته، استادې وویل: د فلم د کیسې په هکله وغږیږه : کیسه می ورته پیل کړه، چی یوپلار د خپلو زامنو لپاره ټول عمر خواري کوي، تردی حده چې کله دی تقاعد کیږي، او حتا د تقاعد پیسې هم خپلو زامنو ته ورکوي، خو بلاخره داسی وخت راځي، چې د پلار په ساتلو کې زامن یوله بل سره جګړی کوي، یو زوی وایی: زه یی نه ساتم، بل وايي زه یی نه ساتم. خیر هغه خبره پر ځای ده ، چې وایی: یو پلار اته زامن ساتلی شي،مګر کله کله اته زامن یو پلار نه شې ساتلی.
بلاخره یی بیا هغه کس چې دی په ماشومتو ب کې د صله رحمی له وجی ساتلې وو. هماغه یی بیا ډیر قدر کوي او که څه هم دده اصلي زوی نه وي. کله کله د سړی بنیګڼه هم بی ځایه نه ځي، بیا می هغه ددری ژبې د تکړه شاعر شیخ مصلح الدین سعدې شعر په یاد راغی چې وایی:
تو نیکی کن و در دجله انداز
که ایزد در بیابان ات دهد باز
در خصتی په وخت کی استادې راته وویل: زه دا فلم حتما ګورم انتظاره!
خیر دوه ورځی وروسته مې ازموینه وه( چانسي ازموینه) ازموینه مې ورکړه، هما غه د آداری د ژبی مسئول وویل: ته سبا ته راشه ستاسی به نتیجه معلومه شي! خیر سبا ته راغلو نتیجه معلومه شوه. ویل یی انتظاره! ته کولای شی چې خپل د پوهنتون کارونه (ثبت نام ) خلاص کړی . او بیا دی هم مبارک وي. دآداری څخه دوتلو په وخت کې مې د هغی ټولګی استادې (ګامزه ګاوون) راڅخه د ازموینې په هکله وپوښته، ورته مې وویل کامیاب شوی یم ډیره خوشحاله شوه، په کراتو کراتو یی راته مبارکی راکړه، د پوهنتون کارونه می خلاص کړ، افغاني لباسونه مې هم په تن وو ، یو تن را باندی غږ وکړ ،هه وروره !

چیرته  په خیر؟ په ډیره حیرانتیا سره مې شانته وکتل (احمد افغان) وو ، ښکته اوپورته یې راته وکتل ویل یې: را غاړې وځه ، سره ښه غاړې تر غاړې شولو، په بس کې یې راته وویل: چې په دغه پوهنتون کې درس وایم، یعنې کوم پوهنتون ته چې زه اوس معرفي شوی یم. د احمدافغان  دې کور ودان وي، ویل یې همدرد صاحب! ته دې کارونه خلاص کړه، د نوټونو او درسونو په هکله به بیا سره خبرې وکړو ( نوټونه به زه درکړم).  ورته مې وویل: چې ته مې له خدای (ج) څخه په شپه کې غوښتلې، خدای(ج)  په ورځ کې راکړې . دمننې په ډول یې سره وخوځاوه، د پوهنتون له نوم لیکنې وروسته پوهنتون ته ددرس لپاره لاړم، ددرس له خلاصیدو یعنې د تفریح په وخت کې مې له احمدافغان  سره ولیده، له روغبړ وروسته یې راته وویل چې همدرد صاحب!   دلته د کمیټې سیستم دی او لومړی کال مو شپږ کمیټې او یو اخرې ازموینه (فاینل ازموینه) لري. هورښتیا دټولو مضامینو ازموینه په یو وار سره اخلي ،ماو یل دا څنګه امکان لري؟ ویل ډیر شیان به دلته وګورې چې ناممکن وي، مګر دلته به امکان پذیر کیږي ... خیر ماوویل: ددې کمیټې ازموینه کله دی؟ ویل یې یوه اونۍ وروسته، نوټونه او درسونه مې له احمد جان څخه واخیست، د بسم الله  په ویلو مې پرې پیل وکړ،او تردې حده مې مطالعه کوله، چې شپه به سهار کیدله او زه به پرې خبریدم هم نه، خیر ازموینه راغله،د ماښام له لمانځه وروسته دازموینې خونې ته لاړم،له معمول سره سم په اول قطار کې کیناستم. سوالونه مې حل کړل، له ازموینې وروسته بیا له احمد جان سره مخامخ شوم راته یې وویل همدرد صاحب ! ازموینه څنګه وه؟ ما ویل الحمد الله ډیره ښه وه  ویل یې ربښتیا وایې! له دې سره یې راته وویل وروره! ډیرې ترکانو ټولګیوالو مو ویل: چې دا کمیټه ډیره سخته کمیټه وه. اوته وایې ښه وه؟ ما ویل همیشه باید په

هر حالت کې انسان دالله(ج) شکر ادا کړی، خو زما په اند ازموینه ښه وه.

په ټولګی کې ناست یم، ویل د ازموینې نتایج اعلان شوی. خیر له درس وروسته می خپل نوم پیداکړ ومی لید ښې نمری می اخیستې وی. په هر صورت له ټولګی څخه دوتلو په حال کې وم، د طب پوهنځی رئیس (پروفیسور اندر شمشک) نومی یو پروفیسور وو. راته یی وویل همدرد ستا نوم دی؟ ما وویل نوم مې انتظار تخلص مې همدرد دی، ویل یی صحیح ده همدرده ! ویل یی : هو ربښتیا دوه اونۍ وروسته دی، د هغو کمیټو چې درڅخه تیرې شوې، ازمویني دي. نور مې درس ته بیا پیل وکړ ،خو هغه دوه اوني هم تیری شوې، او د ازموینې ورځ راغله، ازموینه مې ورکړه، خو د ازموینې له خلاصیدو ډیر خوښ وم، پوهیدم چې سوالونه مې ښه حل کړې، خیر دوه دری ورځې وروسته د طب پوهنځی رئیس ( پروفیسوراندر شمشک) راغی، ویل یی انتظار څوک دی؟ ما ویل زه یم ویل په ازموینه کې دی ۸۲ نمبرې اخیستی ، مبارک دی وي درته ،ښې نمری دی اخیستې ...نور نو په همدی ډول شپی او ورځې تیریدی ربښتیا د نوم لیکنې له وخت نه یوه ډیره نه هیریدونکي خاطره لرم هغه داسی چې : له معمول سره سم د پو هنتون د پیلیدو لپاره مې خپل کارونه خلاصوو، یو ملګری مې هم راسره وو، چې افغاني کالي یی اغوستی وو، کالي هغه اغوستي وو، خوښ زه ورته وم ! په هره آداره کې به هر یو ترکي او ترکۍ د افغانی لباسونو په هکله یې مثبت نظر درلود، ډیرو خو لا د انځور ا خیستلو غوښتنه هم کوله ،خو له پوهنتون له آداری د وتو سره له یوی ډلی افغانانو سره مخامخ شوم ،سره له دی چې په دوی کې یو کس مې پیژنده، نور ملګري (افغانان) هم ورسره وو، خو له روغبړه مخکې یی راته وویل همدرد صاحب! دغه کالیو نه خو په وطن کې پوزی ته راغلي یو، دا دد ریشی او پتلو ن ځای دی، نه د افغاني کالیو،مونږ خو په دی کالیو شرمیږو ! همدا سې نه ده همدرد صاحب! همدرد صاحب مونږ هم عجیبه کلتور لرو بس له کمپلو مو کالي ، له څادرو ځانته پټو جوړوو ! والله وروره! حتا سړی باید ونه وایې: چې زه افغان یم

،داستا ملګری لا پکې دلته دغه لباسونه(کالې) ا غوستي، دا د ی لا بله سپکه!! ومې ویل لومړی خو ستړي مه شئ! له روغبړ وروسته مې وویل وروره که د ا ځادر دی که کمپله خو زه پری شرم لا څه کوی چې ډیر ویاړم ، ماته د غه لباسونه ویاړ ښنی نه ددوی پتلون!،ولی دوی نه شرمیږي چې د ا پتلون او دریشي ا غوندي،ځکه پتلون او دریشی نه ددوی لباس وو، اونه دی که داسی وی نو بیا دریشی خو ستا ،امریکایانو ،هند یانو او پاکستانیانو ...په تن هم ده، ایا هم داسی نه ده؟ او له بله پلوه زه نه وایم چی ته پتلون مه اغونده ،یایی زه نه اغوندم پتلون او دریشی کې درسره مشکل نه لرم خو د خپل اصلي وطن ،هویت څخه په منکر کیدو کې درسره مشکل لرم .، شا عر څومره په ځای ویلي:

د بل ژبه یادول لوی کمالي دی ..... خپله ژبه هیرول بې کمالي دی .

مړه همدرد صاحب! ته خو داسی خبری مه کوه ،دی (۲۱) پیړۍ ته وګوره او ستا وطني خبرو ته هههه،هههه !!! پریږده مړه همدرد صاحب! پرمختګ ته مخه وکړه ، هغه افغاني(ملنډو) کالي پریږدی، پرمختللې کالي واغونده ،ددی عصر کالي د ځوانانو کالي څه کمپله( ستاملګری) اغوستی!؟ ومی ویل ملګرو لومړی خو پرمختګ په لباسونو (کالو) کې نه دی، او که داسی ده نو د (۲۱) پیړی دلته نارینه یې پټ او ښځي بربنډې، حیران وم څومره چې ځان شرموي هغومره به دوی ته پرمختللی ښکاري، که داسی وای نو د انسانانو ژوند په لومړنیو پیړیو کې وګورئ، نو هلته نر او ښځه په غربی نړۍ کې د کا لیو د نه شتو ن له امله بیا هم تر د وی ځکه ښه او پر مختللی وو چی ښځي او نر دواړه به په یوه اندازه په کالیو کی پټ یا بربنډ وو . ښه او بله دا چې که پرمختګ په لباسو وای نو ارسطو به نه ویل: چې مونږ تر هغی د خپلې خاوری حق نه شو ادا کولای چې ورته کار ونه کړو ، همدا سی ډیری لویدیځ پوهان ستا هم انده خلک!! په دی اند دي چې کار (علم او عمل ) د پرمختګ عوامل دی نه کالي خیر د ا چې مونږ مسلمانان یو، نو رسول( ص) ویلي: کاسب د الله (ج) دوست دی . همدارنګه عمر رض ویلي: چې ټول مسلمانان راته ګران دي خو د هغه چا قدر زما په

وړاندی کمیږی چې بیکاره وي ،د بیکار مطلب فضل احمد افغان په خپل یو شعر کې ویلی : ته ناز کړی چی بدل کړی زمانې یم ..... مرد هغه دی چې بدله زمانه کړي. او بله که و ګور د لویدیځو تر ټولو ښه ښځه ددوی ملکه ده ،چې په کالیو کې نسبتا پټه وي، خو زمونږ هره افغانه(ښځه) په ښکلې افغانۍ او با حیا لباسو(کالیو) کې پټه وي، ښه نو دا په دی معنا چې زمونږ هره افغانه ښځه ملکه ده!!!نو ته ووایه چی تردی نور څومره پرمختګ! (حقیقي پرمختګ) د افغانانو څخه یو تن میلمه کړی وم ، دا ځل مې د یو ملګری په تن افغاني کالي ووخونې ته له ننوتلو سره له روغبړ مخکې یو افغان(پوهنتون استاد) وویل: ښه ښکلی کالې دی اغوستی خو له دی کالیو نه مې ځکه کرکه راځی چې په دی کالیو خو مونږ ډیر خیر وغوښت ههه ههه ؟(د کرزی صاحب دوره یادوی)!! ما ورته و ویل چې د یو هیواد د پوهنتون استادچې په دی نظر وي نو له نو رو خو بیا ګیله په کار نه ده!!. او هغه چی واقعا له ځان څخه ځناور جوړ کړی دوی ته پرمختللی خلک دي!، ددوی چې د نر او ښځی توپیر نه کیږي دوی ډیر پرمختللي دي ددوی شکیدلي کالي (په پور اخیستی ) پرمختګ دی !. او بعضو له کالیو سره د ویښتانو شکل هم لکه د کربوړی ،موږک... په څیر جوړ کړ ی چې په ورځ کې د سږی ویره تری کیږي، په شپه کې که یی هغه اصلي ځناور وګوري  نوپه سل متری کې به تری وویریږي، چې د ا څنګه ځناوردی شکل یی ما ته ورته مګر تکامل یی زما په څیر نه دی!! دا نو ددوو ډیر لوی پرمختګ دی! بله دا چې که په بس، مترو او یا که په ښار کې روان یی نو په زوره درسره ټکر کوي، حیران ځکه یم چې که موټرچلونکی شراب و څښی نو په هوښ به نه وي چې ټکر کوی، خو دلته بیا پرمختللې خلک د موسیقي اوریدلو ، ګډیدلو ، سندرو ویلوله کبله بی هوښه وي ، چې حتا په اوږه دی ووهي ، خبر هم نه وي حیران یم دی پرمختک ته!! معمولا ملګروو  دویښتانو رنګ دوه قسمه وي ،مګر دلته بیا نو د چا سر شین ، د چا سور ،د چا اوښین او د چا ژیړ د ا خولا څه کوی چې اوس نو بیخی پرمختللی شوی چې د یوسر ویښتانو کې شل قسمه رنګ پیدا کیږي. ته به وایی چې د هندوانو د رنګ شیندلو ( هولي )په مراسمو کې یی برخه اخیستی وي ، خو په دومره توپیر

چې د هندوانو ټول کالي ،مخ او ويښتان په رنګ وي، له وينځلو سره پاکيږي، مګر دوی خو ډير پرمختللي دي ددوی دويښتانو رنګ په او بو سره هم نه ځي(نه پاکيږي)! ځکه دوی خو ډير پرمختللی دي! استاده نور نو څومره پرمختګ!.

هو ربښتيا دا چی د طب پوهنځي له بوختياوو سره سره مې يوځه مات ګوډ شيان ليکل ،خو د وخت دکمې په لحاظ مې دومره ډيره ليکنه نه کوله، په هر صورت د اخری ازمويني له ورکړی، مې وروسته د خپل ورور سره چې دا مهال يی، په هند کې زده کړی پای ته رسيدلی وی.

د خپل ديپلوم د ترلاسه کولو لپاره يی کارونه خلاصول، خير له ملګرو مې مشوره واخيسته، چې که د اوړی په رخصتې پاتی شم څنګه ده؟ ډيری ملګری مې چې د اوړی رخصتيو کې پاتی شوی و، راته يی ويل چی همدرد صاحب ! ځه بس خپل کور او کورنۍ وګوره او له رخصتيو دی خوند واخله ماويل څه مشکل دی؟ ويل د ټول ليليی هلکان، معمولا خپلو کورونو ته ځي، او ډير محدود شميرهلکان په ليليه کې پاتې کيږي، دا ټول هلکان په يوه ليليه کې راټوليږي، ښه خبره همدا ده، چې کور ته لاړشي .

زما هم ډير زړه کيده، چې هيواد ته لاړ شم، ځکه اول ځل لپاره مسافر شوی وم. ډير مشکل هم وو راته خو ښه وو، د ډيرو مصروفيتونو له کبله راباندی مسافري دومره سخته تيره نه شوه، د خوشحال بابا هغه شعر مې راياد شو چې ويلی:

چی مې غم پرې غلطوم دری مې محرم دي

يوقلـــــــم بل مې کتاب بل مې اشعار خپل

خير سړی چې مصروف نه وي، بيا نو واقعا مسافري سړی خپه کوي، ځکه په بيکاری کې د سوچ وهلو پرته بل څه نه وي!

افغانستان ته د تګ لپاره مې ټکت واخيسته، ټکټ پلورونکی وويل :د انقری څخه مو پرواز راتلونکې اونې دی، مګر له استانبول څخه په همدی اونۍ مونږ دتګ يا سفر لپاره پرواز لرو، خير دوه نور ملګرې هم

راسره وو، ماوويل: يوازى سفر کول ښه نه وي، بل ملګرى چې درسره وي نو ښه به وي. خير استانبول ته لاړو، استانبول کې دومره ګڼه ګوڼه زياته وه، چې سړى ته داسى احساس ورکوي، ته به وايى چى د چين په شانګهاى ښار کې روان يم.! په هر صورت يوه ورځ خو د انقرى نه تر استانبول پورى په لاره کې تيره شوه ، بله ورځ مو د ملګرو په مشوره د چکر په نيت ووتو، خيرد ورځى مو سلطان محمد فاتح جماعت ،تکسيم په نوم ځاى ته لاړو، مازيګرلمونځ مو د سلطان محمد فاتح مسجد کې وکړ. خو حيران په دى وم چې د مسجد په شاوخوا کې، خارجيانى (ښځى) په هماغه يو نيکر او ځينو خو بيخى لا ځان شرمولى وو، دانځورونو په اخيستلو بوخت وو، له ملګرو مې اوريدلى وو، چې په استانبول کې ښځي کله له مسجدونو څخه ليدنه کوي، نو دليدني په مهال، که خارجيان کافرانې وي نو د غو
ښځوته د حجاب سهولت برابر کړى دى. يعني مخصوص حجابونه به اغوندې له هغې وروسته به مسجد ته داخليږي، خود سترګو ليد مې بيا بل څه و، يعني هيڅ داسى د حجاب لپاره کوم انتظام نه وو، ښه په نره ښځو (کافرانو ښځو) پکې انځورونه اخيستل، حتا د لمونځ کوونکو ليدلو لپاره به مسجد ته هم ننوتلې، خير هغه رښتيا دي چې وايى:( اوريدل د ليدلو په شان نه وي) واقعا چې همداسى ده. د سلطان محمد مسجد له وتلو وروسته د تکسيم نومې ځاى ته لاړو ،هلته مو د ملګرو سره قدم وهلو، چې يو ه ډله خلک چې يو قسم شورماشور يى جوړ کړى وو، تا به ويل چې د کومې لويى ډمې د واده ورځ ده، له همدى سره مى له يو ملګرى چې په استانبول کې اوسيده اونن مونږ سره د چکر په نيت وتى و، وپوښتل: وروره! دا خلک څوک دي ؟ او څه غواړي؟ چې دومره شور يى جوړ کړى. ويل همدرد صاحب ! دا هغه خلک دي چى په ظاهره نر او په باطن کى ښځه يا په ظاهره ښځه او په باطن کې نر وي، او داسى کسان هم شته چې هم جنسه دى، ما ويل ورور هغه څنګه ؟ ويل هغه داسى چې همدا اوس دوه نجونو سره واده کړى. او دوى دغه واده لمانځي. دوى ددى لپاره چې د غه کار په رسمي ډول د حکومت لخوا ومنل شي، دوى دغه خپله خوشحالې د مظاهرې په بڼه لمانځې، ماويل ښه نوداسى خبره ده، خير ورځ هم

نوره په خلاصيدو وه. د ليليى په لور وخوځيدو، دليليى او ښار ترمنځ يوه بحيره ده، چې د همدى بحيرې له پاسه د استانبول ډير مشهور پل، د سلطان محمد فاتح پل دی ، چې دغه پل د بسفر د پل په نوم هم مشهور دی، دغه پل په ۱۹۸۸ عيسوي کال کې جوړشوی، او دنړی د اوږدو پلونو په قطار کې دا ۵ پل راته ،چې اوس مهال دغه پل (بسفر پل) د نړی ۱۹ درجه اوږد پل دی. دغه پل له ۱۵ميلادي پيړی وروسته، د عثماني خلافت په وخت کې سلطان محمد فاتح له خوا چې غوښتل يی په ۱۴۵۳ کې قسطنطينه (استانبول) فتحه کړي،جوړ شوی وو چې وروسته بيا د همدی په نوم ونومول شو، دغه پل دآسيايی او اروپايی ترکی نښلونکی دی، دغه پل ۱۵۱۰ متره اوږدوالی ۳۹ متره پلنوالی او د بحيري له سطحې څخه ۶۴ متره لوړوالی لري، او دغه پل دايرو ديناميک له پلوه له دواړو خواوو څخه، په دوو ډبلو فلزی کيبلونو چې په عمودي ډول سره استوار شوي دي، تړل شوی دی. اودغه پل د (Freeman Fox & Partners and BOTEK Bosphorus Technical Consulting Corp)

ساختماني شرکت له خوا جوړ شو. ددغی پل کار د ۱۹۸۸ د جولای مياشتی په دريمه نيټه پای ته ورسيده.د ترکيی د صدراعظم تورګوت اوغلو لخوا په داسی ډول پرانيستل شو، چې دی خپله په موټر چلولوسره لومړی کس وو، چې په خپل موټر کې له دی پوله تيرشو. دغه پل د ۱۳۰ ميليون امريکايي ډالرو په لګښت جوړ شوی ، چې په يو وخت کې د ۱۵۰۰۰۰ موټرو د تيريدو توان لري. په بيړی کې ناست وم ،غوښتل مو چې ليليی ته بيرته لاړ شو، په بيړی کې زمونږ د بيوشيمي استاده (جميله کوجا) هم وه . په اول ځل مې چې پری سترګې ولګيدې نو ګمان مې وکړ، چې هماغه به وي، خو بيا مې له ځانه سره وويل: چې هغه خومې په داسی خرابوکاليو کې هيڅکله نه وه ليدلي، يو دوه دقيقی وروسته يې خپله راباندی غږ وکړ، نور می ګمان په واقعيت بدل شو، څنګ ته يی لاړم نور ټولګيوال مې هم وو راسره خو له سترې مه شي! وروسته يي راته وويل: دا مې ميره دی، استانبول ته په چکر راغلی يو، ويل ته مې ځکه وپيژندلی چې هميشه به دی په ټولګی کې، ددرس په هکله پوښتنې کولی، ما وويل: هو همداسی

ده! له استادې سره د خدای په امانې وروسته لیلیی ته لاړو، او د شپی د همدی بحیری ( دسلطان محمد فاتح د پل) د لیدو لپاره ورغلو، د بحیري ترڅنګ ناست وو،چې یو ملګری مې وویل: سړی که هر څومره غم ولري، خو که دسمندر دغه څپې وګوري، نو ټول غمونه یی ورکیږي. هو ربښتیا د سمندر دڅنګ سره مې دداسی خبرو غږونه واوریده، چې ورسره اشنا وم، ( پښتو یا دری) خیر د ملګرو له ډلی پاڅیدم لږ ښکته لاړم ګورم، چې له بده مرغه زمونږ ځیني افغانان چې دمستی نه چیغې وهي خو ورسره تورسری (زنانه) هم وو، غوښتل مې چې څنګ ته یی لاړ شم، ورسره مرسته وکړم چې ځان په بحیر ه کی وا نه چوی ، خو د ملګرو مې راته پام شو، ویل یاره همدرد صاحب! ستا هم څه څه کارونو سره کار دی. ماویل وروره! زنانه ورسره دي او بیا افغانان دي ښه به وي چې ورسره مرسته وکړو، ویل نشه دي دوی پخپله داسی کارکوی دلته دا خبری عادی دی، دنورو په کار کې کار مه لره پوه یی کړم، چې دوی مرستی ته اړتیا نه لري، خیر په هغه شپه مې نور طبیعت ډیر خراب وو ، همدا مې په فکر کې ګرځیده ،چې اخیر ولی دوی داسی کوي؟

٨ بجی دورځې مو د الوتکې په لور حرکت وکړ،د ملګرو موکور ودان داتاترک ترهوایی ډګره هم مونږ سره راغلل، او ځانونه یی راسره ډیر په عذاب کړل. خیر د پاسپورټونو له چک کولو وروسته د الوتکې په لور وخوځیدو، دالوتکی د کیناستو او له ښه انتظاره وروسته الوتکه په حرکت شوه، خو داخل هم راسره ډیر افغانان وو، په دوی کې یو پلن ځوان چې ښه داسی غوښور او خیټور وو، نو دی دالوتکی د منځ لاره کې ولاړ، د خپلی چوکې څخه راپاڅیدلی، او د ملګرو سره دګپ په بهانه د تیریدو لاره یي داسې بنده کړی وه ، ته به ویل که میږې تیر شي نو ددی خیټور ځوان سره به یی حتما ټکر کوو،په هر صورت ډیری ناست مسافرین ددله دریدو څخه په عذاب شو، چا چې ورته ویل: چې لاره دی بنده کړی، نو د ی به لومړی ویل تیریږه، د نورو په کار کې څه کار لری . کله به چې دالوتکې خدمتګاره دده په لور راتلله کوی ؟ هغه وویل: ملګرو سره ګپ شپ ویل یی: چې ځوانه! څه ، وویل چې وروره! دا ستا ګپ شپ خو د خلکو :لګوم، ما ورته وویل

نه ځان وويست، وزن دی هم ماشاالله زيات دی، نو په نوم بشر چې دلته دی ستا له بی ځايه دريدواو ددې شيطاني قصيدو نه پوزې ته راغلي دي...نور په هر صورت بيا به خپلی چوکې ته ديو دوه دقيقو لپاره تلل بيرته به راته، کله چې به کوم زنانه تيريده، نو دده ته به يی سپکې سپورې ويل نو دی به خندل، او خپل ملګروته به يی مخه کړه، ويل: د لته دريدل بيل خوند لري بس نور څه ووايم تر رسيدو پورې، دی لکه جزايی عسکر ولاړ وو . خير په الوتکه کې مې خپل يو ټولګيوال وليد، له ښکته کيدو وروسته مو سره ښه ګپ شپه وکړه، خير د شپی يوولس بجې وي چې د حامد کرزي هوايی ډګر ته ورسيدو. پلار مې هم په کابل کې وو، د زنګ وهلو وروسته ويل زه په کابل کې يم. بيا به سبا يوځای ځو ننګرهار ته! د هوايی ډګر ترڅنګ زما په انتظار کې وو چې له رسيدو او د خپل پلار جان د لاسونو دښکلولو(مچولو) وروسته مې د پلار دفتر کې شپه تيره کړه، له ډوډی خوړلو وروسته ويده شوم. سهار مو له ځينو ليکوالانو او ژورناليستانو سره وليدل، چې د پلار همکاران مې وو بيا مخ په جلال اباد مو حرکت وکړ. اوس نو راته د پخوا په څير هر څه هماغه ډول نه ښکارکيده، بس د هر څه له ليدو مې خوند اخيسته او له ځان سره مې ويل: چې رښتيا هم د هر چا قدر په خپل وطن کې وي. پردی په سړ ی څه کوی دښه ساعت سفر وروسته جلال اباد ښار ته ورسيدو له موټره ښکته شوو د حاجي احمد شير ميوه مو اخيسته چی دخپل ګران استاد حاجي صاحب خان سره مې وليدل، له روغبړ وروسته مې استاد ته وويل چې استاده ! اوس مې هم هغه ستا د ژوند د تعبير درس په ذهن کې دی، ويل هغه څنګه انتظار جانه! ما ويل هغه داسی چې تا په ټولګی کې وويل: عجيبه ژوند دی! د ښوونځې په دوران کې استاده ډير ځل دی دغه خبره کوله ويل دي، چې همدرد صاحب! ډير ځله نور(خلک) د نورو(خلکو) په هکله داسې ګمان کوي چی هغه به تر ما خوښ وی په ژوند کې مګر داسی بلکل نه دی ځکه کومه ستونزه چې تاته هيڅ ښکاري هغه بيا نورو ته لويه ستونزه وي، او برعکس کومه ستونزه چې تاته ستونزه ښکار ي هغه شا يد نورو ته هيڅ ستونزه ښکاره نشي. ما ويل هغه څنګه ښوونکيه! وی ويل ښه بيلګه يی داده چې يو ډاکټر د اناټومي

په هکله فکر کوی (ازموینه ..،فزیولوژي له مضامینو فارمکلوژي...نور ( مضامینو یا کتابونو) سره څه ! مګر خو که له بله (.،زده کړه...نور پلوه یی وګورو بیا د یو بزګر له د غو مضامینو او کتابونو سره څه ! بزګر د مځکو څخه دښه حاصل لاسته راوړلو ،د سبزیو (کچالان،رومیان،پالکو،پیازو... نور.) د نرخونو د لوړیدو او ښکته کیدو په هکله فکر کوی او یایی د څنګه پلورلو په فکر کې وي چی په ښه بیی و پلوری مګر د یو انجینربیا له د غو سره څه انجینر صاحب خو د کورونو د نقشو او د سیمنټو د اندازی او محاسبی سره یی کار وي که څنګه همدرد صاحب ! همداسی نه دی!! ښه یی راته د فکر نیلی ترلیرو لیرو ځایونو، وځغلول او د ژوند ښودلو په ادب یی پوهولم لا په همدی سوچ کې وم، چې وویل : انتظار جانه ! زمونږ لوی مشکل همدا دی، چې مونږ د نورو په هکله فکر نه کوو( دبل مشکل په پام کې نه ساتو) او نه د یو کار د ترسره کولو نه مخکی بیایی زیاته کړه وویل د فکر سره عمل ضرور دی ګورئ! ویل همدرد صاحب ! هماغه د خواجه عبدالله انصاری وینا پر ځای دی ویلې: رنج مردم د ر ۳ چیز هست

١ از قسمت بیش میخواهند (له خپل قسمت څخه ډیر غواړې)

٢ از وقت پیش میخواهند ( له وخت څخه یې مخکې غواړی)

٣ ان دیګران را از ان خویش میخواهد( د نورو حق د ځان ګڼې)

ښوونکې وویل څنګه همداسې نه دی همدرد صاحب ! غوښتل یی چې نور څه هم ووایی خو ما ورته د خبرو د تایید او د موضو ع د پوهیدولپاره وویل رښیتیا هم ښوونکیه ژوند عجیبه دی !

ویل افرین انتظار جانه! د استاد سره د خدای په امانی وروسته کورته لاړو او د خپلو او خپلوانو سره د روغبړ وروسته مې ذهن کې دا خبره ګرځیده لکه چې کوم خوب مې رښتیا شوی وي.

پای

ترکیه ــ انقره

31-01-2015